# څلورمه برخه

# هیله او ژوند

## ناول

# طب محصله

لیکوال: عبید ژوند

**Pashto_novels** **TELEGRAM**

نن هوا د نورو وختونو په پرتله يخه وه ، دسمال مې له خولې او پوزې تاو کړ ، په پښو تر دفتر راغلم.

اسمان وريځ و ، کاريګرو ته مې وويل: هغه مال چې د باندې ايښی دی ، ګدام ته يوسئ ، هسې نه چې باران شي.

ټول لګيا شول په بېړه يې ټول کارتنونه ګدام ته يووړل.

اشپز ته مې غږ کړ ، چې دفتر ته راشۀ ، زه هم راننواتم.

لږه شېبه وروسته اشپز راغی.

ورته مې وويل: څه شی د پخه کړي دي ؟

هغه ووې: نن خو د غوښې نوبت و ، هلکانو ويل ، چې يخني پکې وکړۀ ، يخني کړې مې ده.

ښه دې کړي دي مې ورته ووې او بيا مې زياته کړۀ: زه خو نن وږی يم ، وختي يې ماته راوړۀ.

سمه ده ، يې وويل او له دفتر ووت.

په څو دقيقو کې بېرته له ډوډۍ سره يو ځای راغی.

مننه مې ترې وکړۀ او په ډوډۍ لګيا شوم.

نيم به موړ وم ، چې موبايل ته مې زنګ راغی ، سکرين ته مې وکتل ، مشر ورور نمبر و.

اوکې مې کړ..

سلام او جوړ پخير مو وکړل ، بيا يې وويل: مور درسره غږيږي.

سمه ده مې وکړل او موبايل يې مور ته ورکړ.

مور سره مې پوښتنه وکړۀ ، بيا يې راته ووې: زويه ، ماما د پرون راغلی و ، ويل يې ، چې کوم زوی دې ځي ؛ نو د دوبۍ (متحده عربي اماراتو) ويزه به زه ورته واخلم.

لږ غلی غوندې شوم ، بيا مې ورته وويل: مورې ، چې زه درشم ؛ نو له نږدې به د ماما سره وغږيږم ، چې څه ډول ويزه ده ، ګټه لري او کنه ؟

مور مې ووې: ته بيا کله راځې ؟ هسې نه ، چې بېرته پېښمان شي ، همدا يې موقع ده ، بيا به نه پيدا کيږي.

ورته مې وويل: زه له مالک سره غږېږم ، دوه/ درې ورځې رخصت ترې اخلم ، ان شاءالله درځم.

تر ډېره مو خبرې وکړې ، بيا مې مور وويل: مور ډوډۍ نه ده خوړلې ، نن دې ترور هم راغلې ده.

ورته مې وويل: هله ډوډۍ وخورئ ، ترور ته سلام کوۀ ، نور مو اړيکه پرېکړۀ.

ډوډۍ مې يخه شوې وه ، دسترخوان مې ټول کړ او کاسه مې واخيسته د باندې مې کېښودل.

د مور په زنګ مې چورت وهۀ. له ځان سره مې وويل: اوس لکه چې خبره خرابيږي ، کابل خو خير دوبۍ شوه.

هيله په ذهن کې راوګرځېده ، هغه به څنګه شي ؟ څه به وايي ؟

بيا مې خپلې غريبۍ ته وکتل ، نه کور لرو ، نه مو مشر ورور ته واده کړی دی او نه مور ، ژوند خو يوه ورځ نه ده ، چې تېره شي ، بايد راتلوونکی هم په نظر کې ونيسو.

اوس نو د پوهنتون او زده کړو ارمان په ريښتيا خاورې شو.

هر څومره فکر مې چې وکړ ؛ خو نتيجې ته ونه رسېدم ، چې څنګه پرېکړۀ وکړم.

له ځان سره مې وويل: له ملګرو او هيلې دوی سره به مشوره وکړم ، چې هغوی څه نظر لري. بيا مې ساعت ته وکتل ناوخت و ، پورته شوم ، لمونځ مې وکړ.

له هغه وروسته د دفترونو په حسابۍ لګيا شوم ، د تېرو څو ورځو پاتې ټول کارونه مې سره برابر کړل ، زړه مې تنګ وو ؛ نو د باندې راوواتم.

اسمان ته مې وکتل غرونه ، غرونه وريځې جنوب خواته روانې وې.

ځای ، ځای ستورو ځانونه ښکاره کړي وو او سترګکونه يې وهل.

د دفتر مخ ته پر چوکۍ يخ باد ته کېناستم ، که څه هم چې نوی پسرلی شوی وو ؛ خو بيا هم د کابل هوا يخ وه.

ښه شېبه مې ګرد چاپېره ننداره وکړۀ او د باندې کېناستو څخه مې ښېل خوند واخيست ؛ خو بيا مې لږ وروسته ساړه وشو او دفتر ته ننواتم.

تر ډېره د فکرونو په غبېز کې وم ، چې موبايل ته مې د هيلې زنګ راغی.

له اوکې سره سم مې سلام وکړ.

څواب یې راکړ او بیا یې زیاته کړه: الهامو وبخښه لږ ناوخت شوم.

خدای دې وبخښه ، څه خبره نه ده مې ورته ووې.

هغې وویل: نوی کال هم شروع شو ، بله ورځ جمعه ده ، راځې نه ؟

ورته مې ووې: مالک سره خبرېږم ، چې هغه څه وایي ، ان شاءالله حتماً رخصت ترې اخلم ؛ خو معلومه نه ده ، چې د جمعې په ورځ به شي او که کله.

زما یادېږې ، یې وویل او بیا یې زیاته کړه: الهامه ، چې ته نه راځې ؛ نو زه بیا زه کابل ته درځم.

په خندا مې ځواب ورکړ: له دې به بله غټه خوشالي چېرته وي ، چې ته کابل ته راشې ، اوس خو هوا هم پسرلنۍ شوي ده او ایله د چکر ښکلی موسم دی.

داسې دې نغده ولیدم یې ووې او بیا یې خبره وغځوله: الهامه ، پوهنتونونه هم شروع کیږي ، زما خبره ومنه ، کابل پرېږده ، دلته راشه څه چاره به خدای همدلته جوړه کړي.

ورته مې وویل: هیلې ښکلې ، زده کړې زما لوی ارمان دی ، تر ټولو زیاته علاقه زه لرم ؛ مګر ته باید زما مجبوریت درک کړې. دلته کار تر هغه نشم پرېښودای ، چې بل مې پیدا کړی نه وي ، ځکه په دې بېکاریو کې زما لپاره هلته اوسېدل ډېر سخت دي.

هغې ووې: زه پوهېږم ، زما الهامیه ، ټول مجبوریتونه دې درک کوم ؛ خو زما ستا څخه بغېر دلته ګوزاره نه کیږي.

ورته مې وویل: ته خبره یې بېګا مې مور راته زنګ کړی و ، ویل یې ، چې ماما دې د دوبۍ وېزه درته اخلي.

په حیرانه غوندې لوړ اواز یې ووې: کابل خو پاتې شو ، اوس دوبۍ ته ځې. که لاړې ؛ نو په هماغه ورځ ځان وژنم او بیا یې خبره وغځوله: تاته مې مازدیګر ویلي و ، چې بېګاته مهمه خبره درته کوم ، ته به هېچېرته نه ځې ، ما دلته د کار غم درته خوړلی دی. هغه بله ورځ چې ته کابل ته لاړې ، ما مې پلار ته ووې: زما د یوې ملګرې ورور دی ، کار ورته راګوره.

بېګا مې پلار راته وویل: ملګرې ته دې ووایه نوره د هیلې اړیکه پرې شوه.

موبایل ته مې وکتل چارج پکې خلاص شوی وو. برقونه هم نه و ، حیران وم ، چې اوس څه وکړم.

تلوسه مې شېبه ، په شېبه زیاتېده ، چې اوس به یې پلار څه ورته ویلي وي ؟

بیا مې فکر ته راغلل ، چې له پهرادر څخه موبایل واخلم او زنګ ورته وکړم.

د باندې راووتم ، پهرادار ته مې غږ کړ ، د لویې دراوزې سره یې غږ کړ: نماینده صیب ، دلته یم ، څه شی وو ؟

ورته مې وویل: زما په موبایل کې چارج ختم شو ، لږ ضروري کار مې دی ، ته دې څو دقیقې موبایل راکړۀ.

په بېړه راغی ، موبایل راکړ او دفتر ته راننواتم.

بیا مې هیلې ته زنګ ووهۀ ، اوکې یې کړ ؛ خو غلې وه.

ورته مې وویل: هیلووو الهام یم.

هغې ووې: پوهېدم ، چې ته به وې ؛ خو غږ مې نه کاوۀ ، ما ویل شاید غلط شم ، بیا یې زیاته کړۀ: ولې د خپل نمبر بند شو ؟

ورته مې ووې: چارج یې ختم کړ ، دا مې د بل کس څخه زنګ وکړ ، ما ویل چې تلوسه به دې وي ، بیا مې زیاته کړۀ: اې ریښتیا هغه خبره د په نیمه کې پاتې شوه.

په خندا یې وویل: نه پاتې کیږي ، درته وایم یې. ببګا مې پلار راته ووې ، چې هغه ملګرې ته دې ووایۀ ، ورور ته مې یې کار برابر کړی دی ، سر له شنبې څخه به زما سره په کلینیک کې کار کوي.

له خوښۍ خبرې راڅخه ورکې شوې ، هیلې بیا وویل: لکه چې خدای مو دعاګانې قبولې کړې اوس به نو زما له پلار سره کار کوې او زه به هم په یوه نه یوه بهانه هره ورځ هلته درځم او که کېده ، نور زه هم په هغه بل روغتون کې کار پرېږدم ، پخپل هغه کې به درسره نږدې وم.

ورته مې وویل: هیلوګۍ دا اوس ریښتیا ده او که زه خوب وینم ؟

په خندا یې ووې: زما الهامو خوبونه نشته ، په ویښه یو ، دا هر څه حقیقت دی ، له دې وروسته به نور دلته نږدې ارام کار کوې.

خدای خبر دی ، چې د خوښۍ په کوم حد کې به وم.

ورته مې وویل: هیلې ، موبایل مې له پهرادار (ساتونکي) څخه د یو څو دقیقو لپاره را اخیستی دی ، سبا ان شاءالله بیا زنګ درته کوم.

سمه ده یې وویل او بیا یې زیاته کړه: سبا حرکت راوکړه.

په خندا مې ورته ووې: ستا بیخي بېره ده ، درځم ، زړه مه وهٔ ، اړیکه مو پرېکړه.

موبایل مې بېرته پهرادار ته ورکړ.

خوب راڅخه کډه وکړهٔ ، چای مې راواخیست قرار مې په کوچ (دفتري چوکۍ) کې تکیه وکړه او د نوي کار په اړه مې سوچونه کول. زه او هیله به یو ځای وو ، هره شېبه به سره وینو.

د هېچا ډار او وېره به نه وي.

لکه خدای چې غواړي ، موږ دواړه باید یو ځای اوسو.

اوس شپه نه سبا کېده ، چې د شرکت مالک ته مې زنګ کړی وای.

برق لا هم نه و راغلی ؛ خو موبایل مې چارج ته کیښوده.

څو ځله پخپل ځای کې څملاستم او پورته شوم ؛ خو خوب نه راته.

تر ناوخته ویښ وم ، بیا د شپې په نیمه یې کې خوب وړی وم ، چې سهار راپورته شوم ؛ نو یو ډول خوښي مې محسوسوله ، نه پوهېدم ، چې څه خبره ده ؛ خو وروسته مې د هیلې خبرې ذهن ته راغلې.

له چای وروسته مې موبایل راواخیست ، چې د شرکت مالک ته زنګ وکړم ؛ خو نه پوهېدم ، څه ډول ورته ووایم ، چې زه نور دلته کار نه کوم ، ځکه له ما سره یې ډېره ښه ګوزاره کړې وه او تر اوسه یې تېزه خبره راته نه وه کړې. بیا مې له ځان سره وویل: بهانه به ورته کوم ، چې مور مې ناروغه ده ، زه باید په کور کې اوسم.

مالک ته مې زنګ وکړ: سلام او پوښتنه مو سره وکړهٔ ، بیا مې ورته وویل: درته ویلی هم نشم ، ځکه داسې چلند دې راسره کړی ، لکه د کورنۍ غړی ؛ خو مجبوریتونه بیا له ټولو بد دي ، چې هر څوک سره بېلوي. دغه مو خوده چې مور ناروغه ده ، نور دوه ورونه مې هم په کور کې نه وي ؛ نو یو کس باید په کور و ، ځکه د مور حالت مو ښه نه دی. ممکن نور درسره کار ونشم کولای ، تر هغه چې ته بل نماینده پیدا کوې ، زه درسره یم.

هغه وويل: اول خو که مشکل جدي نه وي ؛ نو کار مه پرېږدۀ ، ځکه چې موږ درسره بلد يو او بل ته په کار ډېر ښه پوهېږئ ، چې ته وې ؛ نو موږ فکر کوو ، چې خپل کس مو شته ، که بيا نه کيږي ؛ نو سبا به زه بل کس پيدا کړم ، تاته اجازه درکوم.

بيا دې هم که د مور حالت ښه شو ؛ نو دادې خپل ځای دی ، هر وخت راتلای شې.

ورته مې وويل: ما هېڅ داسې احساس نه دی کړی ، چې دغه پردی کار/ ځای دی ، له تاسو ډېره ښه خاطره لرم ، ستاسو ښېګڼې به مې تر قيامته هېرې نشي.

هغه ووې: ماته مېلمانه راغلل ، سبا ان شاءالله کس درلېږم ، بيا چې راشې ؛ نو دلته به حسابي هم وکړو او له نړدې به وغږېږو.

خدای پاماني مو وکړه او اړيکه مو پرې کړۀ.

له دفتر څخه د باندې راووتم ، نری باران شروع و.

د نماينده ګۍ په داخل ونه کې مرغۍ باران ته په يوه څانګه کې قطار ناستې وې ، مښوکې يې په وزرونو کې وهلې ، داسې ښکارېدلې ، لکه باران ته چې ښې خوشاله وي.

ښه شېبه مې يې ننداره وکړه ، بيا باران تېز شو ، بېرته دفتر ته ننواتم.

دا چې مالک د بل کس دې راليږلو راته ويلي و ؛ نو بيخي مې کور ته د تګ بېړه وه.

ورځ تېره شوه ، د شپې مې تر ناوخته حسابونه وکړل او ټول کارونه مې برابر کړل ، بيا ويده شوم.

سبا سهار وختي د شرکت مالک زنګ وکړ او راته يې وويل: کس مې درولېږۀ ، چې درورسيږي ، شيان ورته وسپارۀ او نور تاته اجازه ده ، راتلای شې.

غرمه ناوخته نفر راورسيده ، تګ ته مې سخته بېړه وه. ژر ، ژر مې حساب ورسره وکړ او هر څه مې ورته تسليم کړل ، خدای پاماني مې وکړۀ او روان شوم.

ماښام ناوخت کور ته ورسيدم ، مور مې په ليدو حيرانه شوه ، غاړه يې راکړۀ او بيا يې راته وويل: تا خو بيخي څه ويلي نه دي ، چې در روان يم.

ورته مې وويل: مورکې ، يوناڅاپه را روان شوم ، بس ځکه مې څه ونه ويل.

کوټې ته لاړو ، کوچني ورور مې چای راواخيسته او پوښتنه مو سره وکړۀ.

تر ډېره ناست و ، د ډوډۍ نه وروسته مې مور ته وویل: زه لږ ستړی یم ، تر څنګ کوټه کې ویده کېږم.

هله زویه ، ویده شهٔ یې ووې ، ترې راپورته شوم او کوټې ته راغلم.

موبایل مې راواخیست ، هیلې ته مې زنګ وکړ ، تر څو یې خبره کړم ، چې زه راغلی یم ؛ خو د ملګري سلیم زنګ راغی.

د حال او احوال پوښتنه مو سره وکړهٔ ، بیا یې وویل: راځې نه ؟ پوهنتونونه شروع کیږي ، که په کابل کې خوښ یې ؟

په خندا مې ورته ووې: ورورکه ، نور نه درځم ، همدلته ښه خوشال یم ، هلته به څه وکړم ؟

هغه هم وخندل او بیا یې زیاته کړهٔ: موږ هېر نه کړې ، نور دې خوشال وې.

تر ناوخته مو کیسې وکړې ، بیا مې د راتګ خبر کړ او ورته مې وویل: ان شاءالله له نږدې غږېږو ، اوس خوب راغلی دی ، زه ویده کېږم ، اړیکه مو پرېکړهٔ.

سترګې راباندې درندې وې ، ساعت ته مې وکتل ناوخت و. هیلې زنګ ونه کړ ، له ځان سره مې وویل: شاید وخت به یې نه وي پیدا کړی ؛ نو ما هم زنګ ونه وهٔ. کمپله مې په سر راکش کړه او اوږد وغځېدم.

په خو شپېو کې د خوب ملګری وم.

سهار چې مې چای وڅښهٔ ؛ نو شرکت ته لاړم ، مالک لا نه و راغلی.

په دفتر کې ورته منتظر شوم.

تقریباً نهه بجې به وې ، چې راغی ، یو بل کس هم ورسره و.

ستړې مشې مو وکړل ، د شرکت مالک وویل: الهامه ، مور ته دې رب شفا ورکړي ، زموږ درباندې ډېر زړه ډاډه و.

اللهم امین مې وکړل او بیا مې زیاته کړهٔ: زما هم زړه نه کیږي ، دغه مې لکه خپل کار چې پرېږدم ؛ خو بله چاره نشته ، که د مور وضیعت مې ښه شو ؛ نو حتماً بېرته راځم ، مګر فلحال مجبور یم ، چې کار پرېږدم.

سمه ده یې ووې او بیا یې زیاته کړه: شاید کارونه به لرې ، څومره دې چې مور باقي یو ، حساب به وکړو ، نور دې غاړه بنده ، چې څه ضرورت دې و ، دا دې خپل ځای دی په جېګو سترګو راځه.

مننه مې وکړه ، ورته مې وویل: ولې نه حتماً به راځم ، ماته دغه ځای پرادی نه ښکاري.

حسابونه مو سره خلاص کړل د غرمې ډوډۍ مې ورسره هم وخوړه ، بیا مې ترې رخصت واخیست کور ته راغلم.

مور او کوچنی ورور مې د ترور کره روان وو.

ماته یې هم د تګ وویل ؛ خو زړه مې نه کېده ، ورته مې ووې ، چې زه بیا بله ورځ ورځم.

هغوی لاړل او زه په کور کې یوازې پاتې شوم..

څو دقیقې به لا ناست نه وم ، چې سلیم زنګ راوکړ. سلام ، جوړ پخیر مو وکړل ، بیا یې زیاته کړه. د کلي سپینږیری مالک حاجي ناصر اکا په حق راسیدلی دی.

خدای دې یې وبخښي مې ووې او بیا مې پوښتنه وکړه ، څو بجې یې جنازه ده ؟

څلور بجې یې وښودې او اړیکه مو پرېکړه.

ساعت ته مې وکتل تقریباً څه د پاسه دوه بجې وې ، په بېړه مې ځان تیار کړ او کلي ته روان شوم.

موټر ته چې پورته شوم ؛ نو هیله مې ذهن ته راغله ، چې له پرون راهیسې مو زنګ سره نه دی کړی او نه زما له راتګ خبره ده ؛ خو د زنګ موقع نه وه.

موبایل مې راواخیست ، وټساپ ته ننواتم ، مسېج مې ورته وکړ ، یوازې راته دومره ولیکل ، زه لږ وروسته زنګ درته کومم ، نور افلاین (وټساپ بند) شوه.

نیم ساعت وروسته کلي ته راورسیدم. سلیم ته مې زنګ وکړ ، ویل یې چې کور کې یم راځه دلته ، بیا به هدیرې ته لاړ شو.

حجرې ته ورغلم ، چای یې تیار ایښی و. چای مو وڅښه ، کیسې مو هم وکړې ، بیا سلیم وویل: داسې به غلي ، غلي هدیرې ته لاړ شو ، هسې نه چې له جنازې پاتې شو.

سمه ده مې وکړل او له ځایه راپورته شوم ، دواړه د کلي هدیرې په لور روان شوو.

هلته چې ورسیدو ؛ نو له لږ منتظر کېدو وروسته ډله کلیوالو جنازه په اوږو راوړهٔ او د جنازې لمانځه لپاره یې په ټاکلي ځای کیښوده.

ټول ورپورته شوو ، لومړی خلکو وکاتهٔ او بیا د جنازې لپاره قطارونه ودرېدل.

جنازه وشوه او سخات وېل کېده ، چې موبایل مې ولړزېده ، غلی مې راوخیست ، چې ومې کتل ؛ نو هیله وه.

اوکې مې کړ او په ټیټ اواز مې ورته وویل: زه جنازه کې یم ، بیا زنګ درته کوم ، اړیکه مې پرې کړهٔ.

سخات ووېشل شو او د ناصر اکا مړی مازدیګر ناوخته خاورو ته وسپارل شو.

سلیم ته مې د تګ وویل ؛ خو شله و ، چې ځان هم مړ کړې نشې تللی ، نن به له ما سره پاتې یې.

مشر ورور ته مې د زنګ کولو په نیت موبایل راواخیست ، چې ګورم ، هیلې پنځه زنګونه کړي دي ، پوه شوم ، چې د جنازې په اړه یې اندېښنه شوي ده.

په بېړه مې زنګ ورته وکړ ؛ خو پورته یې نه کړ ، له ځان سره مې وویل ، اوس شاید مصروف وي ، ماښام دی ، چې حجرې ته لاړ شو ؛ نو په ارام به ورسره وغږېږم.

په لاره مې له ډېرو کلیوالو سره ولیدل ، ټول به همدا ویل ، چې کده مو ښار ته لاړه ؛ نو کلی دې پریښود.

ورته به مې ویل: مصروفیتونه دي ، کنه هر وخت مې کلی یادیږي.

ماښام ناوخت زه او سلیم د دوی حجرې ته راغلو.

هغه وویل: زه وږی یم ، په وخت به د ډوډۍ خورم ، له حجرې ووت. ما ژر هیلې ته زنګ وکړ ، له اوکې سره سم یې ووې: خیرت دی ، د چا په جنازه کې وې ؟

ورته مې وویل: زموږ یو سپینږیری کلیوال په حق راسیدلی و.

په حیرانۍ یې ووې: ته په کلي کې یې ؟

هو ومې وکړل.

هغې بیا وویل: له کابل کله راغلی یې او ماته دې څه ولې ویلي نه دي ؟

ځواب مې ورکړ: پرون ناوخت يو ناڅاپي راغلم ، نن سهار مې بيا د شرکت والا سره حسابي کوله او مازديګر نږدې کلي ته راغلم ؛ نو موقع نه وه.

په غوسه يې ووې: لکه څومره چې زما يادېږې دغسې ته نه يې. دا بهانه ده ، چې موقع نه وه ؟ ستا زړه نه و.

په خندا مې ورته وويل: لېونۍ ، والاکه دا خبره وي.

اواز يې لوړ شو ، بس چې نور ماته زنګ ونه کړې ، اړيکه يې پرېکړه.

ماته هم غوسه راغله ، موبايل مې بيخي بند کړ ، چې بيا زنګ ونشي کړی.

لږه شېبه وروسته سليم له دسترخوان او پتنوس سره راغی.

ورته مې وويل: ډوډۍ دې وختي راوړه ، داسې نه وي ، چې د شپې بيا وږی شم.

په خندا يې ووې: بيا وږي کېدل نشته ، ځان ښه موړ کړه ، په نيمه شپه تاته څوک ډوډۍ راوړي.

سمه ده مې وکړل او بيا مې زياته کړه: ستا ټول کارونه همداسې دي ، څه ګيله به درنه کوم.

هو نو ، ستا ملګری يم يې ووې او خبره يې وغځوله: زه وږی وم ، غرمه مې هم ډوډۍ نه ده خوړلې ، هغه سهار چای چې مې څښلی دی.

ورته مې وويل: اوس يې رادېخوا کوه ، که د شپې وږی شوم ؛ نو راته به يې راپيدا کوې ، نور نه پوهېږم.

سمه ده يې وکړل او دسترخوان مو هوار کړ ، ډوډۍ ته کېناستو.

تر ډوډۍ خوړلو مو ډېرې کيسې وکړې.

هغه ګيلامن غوندې و ، چې اوس هغه د پخوا غوندې نه يې ، کلي ته هېڅ راځې نه.

ورته مې وويل: وروړکه ، د نورو خلکو په وړاندې چې هر څنګه وم ؛ خو ته.. ولا هماغسې راباندې ګران يې ، هماغسې دې لکه ورور ګڼم او هماغسې د پوښتنه کوم ؛ خو کارونه داسې دي ، چې ماښام ترې کور ته ځم او دغه څه موده خو ته هم خبر يې ، چې بيخي دلته وم نه ، کابل ته تللی وم ، بيا مې خبره وغځوله..

سلیمه ، ته ځان ته ګیله ما دراوۀ ، چې زه کلي ته نه راځم ، د وجودونو تر منځ فاصله هېڅ نه ده ، چې زړونه یو بل ته وفادار وي ، ته زما په زړه کې ځای لرې ، تر مرګه به مې هم په ملګرتیا کې درسره بدلون رانشي ، دا درته ریښتیا وایم او ثابتوم یې.

سلیم ووې: پوهېږم ؛ مګر ګیله له ملګرو او نږدې خلکو څخه کیږي ، زما هم نور څوګ نشته ، همدا تاسو څو کسان یئ ، چې په زړه کې مې ځای لرئ او دربانديې ډېره وم.

ورته مې وویل: بې غمه اوسۀ ، ان شاءالله زه تر مرګه نه بدلېږم ؛ مګر ژوند دی ، ځینې وخت به مصروفیتونه وي ؛ خو په دې معنا نه ، چې ته به مې هېرېږې.

هغه وویل: خدای دې نه کوي ، چې مور تاسو یو بل هېروو. دا چې ډوډۍ مو خوړلي وه او ماړه و ؛ نو دسترخوان مو ټول کړ.

شیان یې دروازې سره نږدې کېښودل او بیا یې زیاته کړۀ: چای به لږ وروسته وڅښو ، چې بیا د شپې وړی نشې.

په خندا مې ځواب ورکړ: هو کنه ، لږ دې ناوخت وي.

بالښتونو ته مو تکیې وکړې ، سلیم وویل: ریښتیا کابل کې څه کیسې وې ؟

ورته مې ووې: ورکوۀ یې ، زړه مې سخت تنګ و ، د طبیعت ملګري نه و او بل چې نوی لاړم ؛ نو غلو رانه جېبونه ووهل ، ټول کابل راپورې اور و.

په خندا یې ووې: دا خبرې پرېږدۀ ، اصلي کیسه وکړۀ.

په مطلب یې پوه شوم ؛ خو بیا مې هم ځان داسې وښودۀ ، چې ګواکې نه یم پوه شوی ، ورته مې وویل: د څه شي اصلي کیسه ؟

موسک غوندې شو او بیا یې زیاته کړۀ ، دغه زما پوښتنه دې چې نه کوله ؛ نو حتماً به دې له کومې یوې سره یارانه نیولې وي.

له خندا شین شوم ، ورته مې ووې: وروركه ، زه دغه کارونه نه کوم ، څه لېونی یم ، چې روغ خوبونه په ځان حرام کړم.

خبرې ته یې خوله جوړوله ، چې موبایل ته یې زنګ راغی ، ورته د باندې ووت.

د هیلې خبرې او زنګ قطع کول مې ذهن ته راغلل ، له ځان سره مې وویل ، چې راپسې خپله زنګ ونه وهي ؛ نو زه یې نه ورته کوم.

تر ډېره په همدې سوچونو کې ډوب وم ، چې سلیم له چای سره راننوت.

تر ناوخته مو په چای باندې د کار او ژوند کیسې سره کولې ، بیا ما ورته وویل: وروركه ، ته به هم سبا کار ته ځې او ماته هم خوب راغلی دی ، که خوښه دې وي ؛ نو ویده به شو ؟

سمه ده یې وکړل او له ځایه پورته شو ، د حجرې په کونج کې له ډلې کمپلو څخه یې دوه دانې کمپلې راواخیستې ، دواړه پر توشکو څملاستو.

تر ډېره خوب نه راته او د هیلې خبرې مې په ذهن کې تاوېدې ، راتاوېدې.

غلی مې د بالښت لاندې موبایل راواخیست خلاص مې کړ او وټساپ ته ننواتم.

هیلې مسېج کړی و: الهامیه ، موبایل دې ولې بند دی ؟ زه بخښنه غواړم ، بېځایه مې غوسه وکړهٔ.

ځواب مې ورنکړ.

هغه انلاین وه ، بل مسېج یې وکړ: الهامه ، ښه غوسه راته وکړهٔ ، هر څه راته ووایهٔ ، زه ملامته یم.

خو بیا مې یې هم مسېج بې ځوابه پرېښود. څو شېبې غلې وه ، ما یې همداسې پورتنۍ خبرې لوستې ، چې زنګ یې وکړ ، دا چې سلیم پروت و ؛ نو ژر مې قطع کړ.

په وټساپ یې بل مسېج راغی ، خبر دی ، ځواب راکړهٔ ، زه ملامته یم ، بد راڅخه شوي دي ، بیا داسې نه کوم.

زړه مې پرې وسوځېده ، ورته مې ولیکل: هیلووو ، ته برناحقه مروره شوې ، دا څوم ځل دی ، چې ته ما سره داسې کوې ، سره ددې چې زه هېڅ ملامت نه وم ؛ خو ته غوسه شې. زه هم انسان یم ، زړه لرم ، خپه کېږم.

ما نور څه لیکل ، چې هغې مسېج وکړ. بخښنه غواړم ، هر څه چې راته وایې ؛ نو ووایهٔ.

نور مې نو غوسه بیخي ختمه شوه او ورته مې ولیکل: زما لېونۍ ، ولې به درته څه وایم ، بس هېڅ خپه نه یم ، بیا مې زړه ورولیږهٔ.

هغې هم په لاس کې د زړه نیولی ستېکر سره راولیکل: الهامووو مینه درسره لرم ، راباندې ګران یې ، درپسې خپه وم.

وروستی مسېج ورته داسې وکړ: هیلې ، زه هم مینه درسره لرم ، راباندې ګرانه او یادېږې مې ؛ خو اوس د سلیم سره حجره کې یم ، سبا ان شاءالله زنګ سره کوو.

سمه ده یې وکړل او بیا یې د معمول په څېر راته د خدای پامانۍ په پار ولیکل:

سترګې دې ښکلوم ، ښه شپه ولرې.

خواږه خوبونه ګورۀ ، چې بغېر له ما دې بل څوک په خوب رانشي ؛ ګني وژنم دې!

وټساپ مې بند کړ او د هیلې خبرو ته مې له خوښۍ خوب وتښتېده.

تر ډېره ویښ وم ، نه پوهېږم څو بجې به وې ، چې خوب په غېږ کې اخیستی وم.

سهار چې مې چای وڅښۀ ؛ نو له سلیم مې رخصت واخیست او کور ته راغلم.

لا به ناست نه وم ، چې د نرسې زنګ راغی.

اواز مې پرې بند کړ ؛ خو پورته مې نه کړ. څو شېبې وروسته یې بیا زنګ وکړ ، اوکې سره سم د څنګ کوټې ته واوښتم.

سلام یې وکړ.

علیکم سلام مې وکړل.

پوښتنه مو سره وکړۀ ، بیا یې زیاته کړۀ: نمبر دې هم بدل کړی دی ، ته خو زنګ نه کوې ، چې زه دې احوال اخلم ، زنګ نه پورته کوې.

ورته مې وویل: تکر چې مې وکړ ، موبایل رانه ورک شو او پاتې شوه د پوښتنې خبره ما سره دې هم نمبر نه و.

هغې ووې: ستا زړه نه و ، کنه ما دې څنګه نمبر پیدا کړ ، همداسې تا هم پیدا کولای شو.

په خندا مې وویل: ته خو تکړه یې.

ویې خندل او بیا یې زیاته کړۀ: د بهانو خو سم ماسټر یې ، اوس دا ووایۀ ، چې کابل نه کله راځې ، له دې ځایه ولې تللی یې ؟

ځواب مې ورکړ: زما خپله خوښ نه وه ، له چا سره چې کار کوم ، هغوی ولیږلم ، هغه بل پرون راغلم ، اوس دلته یم.

غلي يې ووې: مور مې راغلۀ ، سبا د جمعې ورځ ده ، بيا موږ درځو کور ته ، اړيکه يې پرېکړۀ.

مور مې راغږ کړ: الهامه زويه ، نن به له ماما سره په هغه وېزه باندې غږېدلی وای.

له کوټې څخه براندې ته راووتم او مور ته مې ووې: مورکې ، اوس همدلته بله وظيفه راته پيدا شوه ، کابل کې کار مې پرېښود. دوبۍ کې هم د کارونو خوند نشته ، دلته خو به مې شپه پخپل کور وي.

سمه ده ، يې وکړل او بيا يې زياته کړۀ: نور خپله پوهېږئ ، چې کوم کار درته ښه کوي هماغه کوئ او بيا د نغري لور ته لاړۀ.

زه د باندې په کټ کې لمر ته کېناستم او فېسبوک مې خلاص کړ.

تر ډېره پکې اخته وم ، چې وټساپ ته مې مسېج راغی.

هيله وه ، ليکلي يې وو: پلار مې سهار راته ووې ، چې ملګرې ته دې زنګ ووهۀ ، ورور دې يې غرمې ته يو وار زما کلينيک ته راچکر شي ، چې زه ورسره وغږېږم.

بيا يې د پلار نمبر راوليږۀ ، چې يو زنګ ورته وکړۀ ، ادرس به درکړي.

ورته مې وليکل: سمه ده ، زه همدا اوس ورسره خبرې کړم.

هيلې بيا مسېج وکړ: زنګ ورته ووهۀ ، چې ورسره ووينې ؛ نو ماته بيا ووايۀ ، زه به منتظره يم.

ښه مې وکړل او وټساپ مې بند کړ.

د هيلې د پلار شمېر مې اوکې کړۀ ، زړه مې بې واره ټوپونه وهل.

له څو ټاليو وروسته يې زنګ پورته کړ.

سلام مې وکړ.

عليکم سلام يې ووې او بيا يې زياته کړۀ: وبخښئ ومې نه پېژندئ.

ځان مې ورته معرفي کړ ، لږ غلی و ، بيا يې وويل: ښه ، ښه هيلې لورکۍ مې راته ويلي و ، چې زما يوه ټولګيواله ده ، د هغې ورور ته کار راګورۀ ، خبره يې وغځوله: اوس چېرته يې ؟

ورته مې وويل: کور کې يم.

هغه ووې: که اوزګار وې ، زما کلینیک پخوانۍ ملکي شفاخانې شمال ختیځ خواته دی ، یو ځل راشۀ.

ورته مې وویل: سمه ده ، همدا اوس حرکت کوم ، درځم.

پخیر راشې یې ووې او اړیکه مو پرېکړه.

مور ته مې غږ کړ: زه یو ځل نوي وظیفې والا سره وینم.

سمه ده ، ورځۀ یې ووې. له کور راووتم.

د کوڅې له بر سره مې هندۍ رېشکه کرایه کړۀ ، د پخوانۍ ملکي شفاخانې سره نږدې ترې ښکته شوم.

هلته نږدې مې له یو دوکاندار دې کلینیک پوښتنه وکړۀ ؟ ویل یې ، مخامخ کوڅه کې چپ لور ته دریم کور دی.

مننه مې ترې وکړۀ ، سیده ورغلم. لوحې ته مې وکتل ، د هیلې پلار نوم پرې لیکل شوی و ؛ نو داخل ته ورننواتم.

هلته مې نمبر لیکوونکي ته ووې: ډاکټر صیب چېرته دی ؟

ځواب یې راکړ: مریضان ګوري ، نوم د څه شی دی ؟ تر څو نمبر دې ولیکم.

ورته مې وویل: مریض نه یم ، ډاکټر راغوښتی یم ، کار مې ورسره دی.

له ځایه پورته شو ، راته یې وویل: ته لږ منتظر شۀ ، نوم د څه شی دی ؟ زه ورته وایم.

الهام نومېږم مې ووې ، هغه لاړ.

په څو شېبو کې بېرته راغی ، راته یې وویل: هغه مریضان دې راووځي ، بیا ورشۀ.

یو څو دقیقې منتظر شوم ، بیا ناروغان راووتل ، زه ورغلم.

سلام مې وکړ ، له ځایه راپورته شو ، سترې مشي مو وکړل ، بیا هغه پخپل ځای کېناستو ، ماته یې په مخامخ چوکۍ کې د کېناستو وویل. پر مېز تور ایښی بټن یې زور کړ ، په څو شېبو کې یو کس راغی ، ورته یې وویل: هله چای راوړۀ. په بېړه مې ورته ووې: ډاکټر صیب ، د باندې ناروغان دي ، چای نه څښم راغلم ، چې درسره ووینم.

هغه ټینګار کاوۀ ؛ خو ما ورته وویل: همدا اوس چې راتلم ، څښلی مې دی.

د کلینیک اړوند معلومات یې راکړل او بیا یې زیاته کړۀ: سر له شنبې ورځې به ته همدلته ما سره د کنټرولونکي په صفت کار کوې.

کوم ځای مشکل وي ، له ناروغانو سره ښه چلند نه کیږي ، څوک کوم شکایت لري.

دا هر څه به ستا په غاړه وي ، نور ان شاءالله زه همدلته یم ، کومه ستونزه به نه پیښیږي.

سمه ده مې وکړل ، بیا مې زیاته کړۀ: ډاکټر صیب ، ته به مریضان لرې ، سر له شنبې ورځې به زه راځم او کار به کوم ، اوس که ماته اجازه وي ؛ نو زه به لاړم شم ؟

اوس تلای شې یې ووې ، خدای پاماني مو وکړۀ او ترې راووتم.

له خوښۍ به مې لکه لېونی له ځان سره وخندل.

تر کوره به خدای خبر څنګه راغلی وم ، هېڅ په لاره نه یم پوه شوی.

مور ته مې وویل: مبارک شۀ ، د شنبې په ورځ مې نوي وظیفه شروع کیږي.

مور مې هم زیاته خوشاله شوه ، راته یې ووې: زویه ، خدای مو هره لاره جوړه کړۀ ، د ښکلي کور او ښځو څښتن شئ.

په لاسونو مې ښکل کړۀ ، بیا مې ورته ووې: دا ستا د دعاګانو برکت دی ، تا دې خدای تر ډېره ژوندۍ راته لري.

په تندي یې ښکل کړم او راته یې وویل: هر وخت دعا درته کوم ، الله مو بندې بېړۍ رواني کړۀ.

امین مې وکړل.

زه مور سره ولاړ وو ، چې دروازه خلاصه شوه ، ورومې کتل ، د نرسې مور وه.

زه په بېړه کوټې ته ننواتم او مور مې وړاندې ورغلۀ.

د کټ لاندې د چای ترموز ایښی و ، راکش مې کړ ، پیاله مې ځان ته ډکه کړۀ ، بیا مې د هیلې هغه خبره ذهن ته راغلۀ ، چې له پلار سره مې ووینې ؛ نو ماته زنګ وکړۀ ، زه به منتظره یم.
په بېړه مې موبایل راواخیست او هیلې ته مې زنګ وکړ.

خو زنګ یې پورته نه کړ ، فکر مې وکړ ، چې شاید هیله مصروفه وي.

چای مې وڅښه. د نرسې مور بېرته لاړه او زه د خنګ کوټې ته واوښتم.

مور مې له نالکۍ د اوبو سطل ډک کړ او د کوټې تشناب ته یې راوړ.

زه په موبایل کې مصروف وم ، چې مور مې وویل: زویه ، ترور دې ډېره ناروغه ده ، هغه بله ورځ چې موږ ورغلي و ، خوند یې نه و. ته زنګ ورته وکړه ، چې یوه پوښتنه یې وکړم.

سمه ده مې وکړل او ترورزي ته مې زنګ وکړ ؛ خو شمېره یې بند وه.

مور ته مې وویل: اوس زنګ نه ورته تېرېږي ، وروسته به یې بیا ورته وګورم.

هېر دې نشي یې ووې.

پوښتنه مې ترې وکړه ، چې د ګاونډیانو ښځه ښنکه راغلې وه ؟

ځواب یې راکړ: هسې راغلې وه.

ورته مې وویل: مورکې ، هر وخت هغوی راځي ، کله نا کله ته هم ورځه.

زویه ، ورځم یې ووې او بیا یې خبره وغځوله: زه خو یوه کسه یم ، د هغې لوڼه شته د کور کارونه ورته کوي.

په خندا مې ورته وویل: مورې ، ته هم ځان ته لوڼه پیدا کړه ، تر کومه به پخپله کارونه کوې ، لږ به دې فکر ورسره بدل وي.

تاسو تکړه شئ ، چې دا نن یې درته وکړم او بیا یې زیاته کړه: زما دغه ارمان دی ، چې تاسو ته ښځې وکړم ، کور مو جوړ شي ، نور که بیا مړه هم شم ؛ نو پروا مې نشته.

په تا دې خدای هېڅ نه کوي مورې مې ووې او زیاته مې کړه: الله مهربان دی ، دغه ارمان به دې هم پوره شي ، خبره مې وغځوله: مورکې ، هغه ډاکټره چې دلته راځي ، لږ خبرې خو پرې تېروه ، چې زه دې زوی ته کوم.

مور مې وویل: په هغه خو د انسانیت او کار ختمه ده ، ډېره ښه انجلۍ ده ، ودرېږه ، له دغه ترور سره یې غږېږم ، که یې راکړي.

په خندا مې ورته ووې: مورې ، زه دې څومره ښه زوی یم ، چې اېنګور دې هم ښه شي ؛ نو بیا به دې مزې وی.

ستا به خبره وي ، زموږ منل.

ستاسو ژوند دې خدای جوړ کړي يې ووې او بیا یې زیاته کړه: بدې ښځې کور خرابوي او ښې ښځې کور جوړوي.

زه همېش دا دعا کوم ، چې خدای دې بده برخه نه راکوي.

اللهم امین مې وکړل.

تر ډېره مې له مور سره ټوکې ټکالې وکړې ، بیا هغه له ځایه پورته شوه ویل یې ، چې زه لوښي مینځم.

سمه ده مې ووې او مور مې له کوټې ووانۀ.

زه د نوي وظیفې چورتونو واخیستم ، په زړه کې مې یو ډول پټه خوښي احساسوله.

له ځان سره مې ویل: د هیلې سره د لیدو فرصت زیات شو ، ډېر وختونه به ورسره وینم. بیا مې یې د پلار خبرې په ذهن کې راګرځېدې ، څومره نرم راسره وغږېدۀ ، له څېرې هم ښه سړی مالومېږي.

همدا د سوچونو په سمندر کې لاهو وم ، چې د هیلې زنګ راغی.

په بېړه مې اوکې کړ. سلام یې وکړ او بیا یې سمدستي وویل: زما له پلار سره دې ولیدل ؟

علیکم سلام مې وکړل ، زیاته مې کړۀ: هو ورسره ومې لیدل.

هغې بیا پوښتنه وکړۀ: څنګه شوه ؟

ځواب مې ورکړ: پلار دې ویل چې څه موده انتظار وکړۀ ، دغه بل کس چې کار پرېږدي ؛ نو ته به راشې.

په حیرانۍ یې ووې: هغه خو ماته هغه شپه وویل: رادې شي ، کار به راسره شروع کړي او ته داسې وایې ، دا څه رېشخند دی.

ورته مې وویل: بس نور نه پوهېږم ، لسو بجو کې کلینیک ته ورغلی وم ، دغسې خبره یې راته وکړه.

هیله غوسه شوه ؛ نو یې ولې ماته ویل ، ته خو به مې له کابله نه وای راغوښتی.

ورته مې ووې: کومه خبره نه ده ، دې کې به مو خیر وي.

هغې وویل: ته صبر زه پلار ته زنګ کوم ، اړیکه یې پرې کړه.

له ځان سره مې ووې ، اوس لکه چې په دروغو لانجه جوړوې ، په بېړه مې پسې زنګ وکړ. له اوکې سره سم یې وویل: وایه.

ومې خندل ، هغه پوه شوه ، چې دروغ مې ورته ویلي دي.

لږ غلي وه ، بیا یې وویل: ښه بیا وایې ، چې برناحقه مروره وې ، زما خو دې زړه وویست ، اوس به مې له پلار سره جنګ کړی وای او بیا یې خبره وغځوله: لږ سړیتوب زده کړه ، په هر څه کې ټوکې او رېشخند مه وهه.

په خندا مې ورته ووې: که مې سمدستي درته ویلي وای ؛ نو بیا به له خوشالۍ څه دربانديې شوي و.

زه به دې هم خوښه شم ، یې وویل او بیا یې زیاته کړه: ښه اوس ریښتیا خبره راته وکړه ، څه یې درته ووې ؟

ځواب مې ورکړ: بس خبره خلاصه شوه ، پلار دې ویل ، چې سر له شنبې ورځې څخه راځه ، دلته به له مور سره کار کوې.

هیلې وویل: الهامووو ، دا خوب وینم ، که ریښتیا ده ؟ اوس به نو زه هره ورځ کلینیک ته درځم.

ورته مې ووې: ته خپل کلینیک ته د کار لپاره نه راځې ؟ ځواب یې راکړ: ما لا له وړاندې پلار ته ویلي دي ، چې زه نور خپل کلینیک ته راځم.

اوس خو نو بیخي هلته نه ځم ، دلته به کار کوم ، زه او ته به یو ځای وو. بیا یې زیاته کړه: الهامیه ، ټوله ورځ مې ورته دومره بېړه وه ، چې خبره یې مه کوه. ښه شوه ، چې وشو ، اوس زه لږ کار کوم ، بیا ان شاءالله غږېږو.

سمه ده مې ووې او خدای پاماني مو وکړه ، اړیکه مو پرې کړه.

ورځ تېره شوه ، د جمعې شپه وختي ویده شوم ، سهار له چای څښلو وروسته یو ځل ښار کې د یو ناروغ ملګرې پوښتنې ته ورغلم.

تر لسو بجو همله وم ، بیا مې اجازه واخیسته او کور ته راغلم ، چې له لویې دروازې راننواتم ؛ نو په برانډه کې مې سترګې په نرسه ولګېدې.

بېرته راتاوو شوم ، د باندې راووتم.

کور ته مخامخ په دوکان کې کېناستم ، تر ناوخته همله وم ، چې نرسې زنګ وکړ ، له اوکې سره یې وویل: وخې زړه مې درته بد شو ، څومره سخت شرمېږې. ما خوله خبرې ته جوړوله ، چې هغې زیاته کړه: راځه کور ته ، موږ کوټې ته ننواتو ، اوس زه له دوی څخه ستا د زنګ په خاطر بلې کوټې ته راغلم.

ورته مې وویل: سمه ده ، زه لږ وروسته درځم. اړیکه مې پرې کړه.

نه پوهېدم ، چې اوس له نرسې څخه ځنګه ځان خلاص کړم او ځنګه ورته ووایم ، چې زه ستا سره مینه نشم کولای.

د خپګان زړه مې پرې نه کېده ؛ خو هغه هم نه پوهېده ، سره ددې چې ما هېڅ داسې حِس نه و ورکړی ، چې ګواکي زه غواړم له تا سره اړیکه وپالم ؛ مګر هغې به بیا هم هر وخت پوښتنه کوله.

کور ته لاړم.

په یوه کوټه کې مور دوی ناست ، زه د څنګ بلې کوټې ته لاړم.

څو شېبې به لا ناست نه وم ، چې مشر ورور مې هم راغی. له ځان سره مې وویل: ځه ډېره ښه شوه ، اوس نو نرسه هم نشي راتلای.

ټوله ورځ ډېر خوښ وم ، چې سبا به د هیلې دوی په کلینیک کې کار پیلوم.

مازدیګر و ، چې نرسه له مور سره خپل کور ته لاړل ؛ خو له ما سره یې خبرې ونه شوې.

زه او مشر ورور مې هم د ښار نوي جوړ شوي پارک ته راغلو.

په چمن کې ایښي مېز ته پر چوکۍ کېناستو. نږدې بخارۍ والا ته مو د چایو فرمایش ورکړ.

دا چې نوی کال و ؛ نو په پارک کې ډېره زیاته ګڼه ګوڼه وه.

اوس هم ډله ، ډله خلک را روان وو.

دومره زیات شور وو ، چې خبره نه پکې اورېدل کېده.

زړه مې پکې تنګ شو ، ما چې ویل مشر ورور راوړاندې شو: الهامه ، کور ته به لاړ شو ، هسې بیروبار دی ، په سر مې یې را درد کړ.

ورته مې ووې: ښه شوه ، اوس ما هم درته ویل ، چې خوند نه کوي لاړ به شو.

له ځایه پورته شوو ، دواړه پلې (په پښو) د کور په طرف روان شو.

په لاره مو ډېرې کیسې وکړې ؛ خو کور ته نږدې مې مشر ورور راته ووې: الهامه ، مور هر یو د ژوند ملګرې ته اړتیا لرو ؛ نو پکار ده ، چې انتخاب پخپله وکړو ، ځکه دا دې دایمي ژوند مساله ده ، بیا یې نه بدلولی شې ، نه خرخولی او نه پرېښودلی.

حیران شوم ، چې دا خبره یې ولې وکړه ؛ نو مې ورته وویل: وروره ، په مطلب دې پوه نه شوم.

په خندا یې ووې: ښه پوی یې ؛ خو ځان ناپوهه اچوې.

پرون چې ته د نوي دندې لپاره کلینیک ته لاړې ؛ نو مور راته ووې: د الهامه لکه چې کومه جینۍ خوښه شوي ده ، ورته به یې په نوم کړو ، نور خدای مهربان دی.

زړه مې درزا شروع کړه او په بنده ساه مې زیاته کړه: مور به هسې ټوکې درسره کړي وي.

مشر ورور مې بیا وویل: په دې کې شرم مه کوه ، دا خو لا ښه خبره ده ، چې پخپله خوښه یې وکړې ، سبا به مور له لانجو درنه خلاص وو.

زه غلي ورسره روان وم.

خبره یې وغځوله: دومره لږ پیسې به زه راپیدا کړم او لږ ته کړه ، چې اوس یې ژر ستا په نوم کړو ، نور به وروسته خدای چاره جوړه کړي.

په زړه کې ډېر خوښ شوم ، ورور ته مې وویل: ان شاءالله بیا به پرې په کور کې وغږېږو.

تر کوره مو ډېرې کیسې وکړې ، له دروازې سره عابد دوکان ته تاوو شو او زه کور ته ننواتم.

مور مې په نغري کې لګیا وه ، ورغلم ورته مې وویل: مورکې ، عابد تا خبر کړی دی ، چې زه له ډاکټرې سره مینه لرم ؟

سره بانجان (رومیان) یې په دېګ کې واچول او بیا یې ځواب راکړ: ولې ؟

ټوله کیسه مې ورته وکړه.

مور مې وويل: هو ، دا خو کومه بده خبره نه ده ، له تا څخه زما هغه ډاکټره ډېره خوښه ده ، چې راڅخه خطا نشي.

سمه ده مې ووې او کوټې ته لاړم.

له خوښۍ ځمکې ځای نه راکاوۀ ، بیخي مې زړه په هوا وو.

له ځان سره مې ویل: دا اوس خوب دی او که ریښتیا ؟ دا به څنګه ورځ وي ، چې هیله زما شي.

شااوخوا هر څه راته خوښ ښکاره کېدل ، زه د هیلې سره د ژوند ملګرتیا په تړاو په سوچونو کې ډوب وم ، چې اذان وشو.

له ځایه پورته شوم ، د کور تر څنګ جومات ته لاړم.

لمونځ مې چې وکړ ؛ نو لږه شېبه د جومات مخ ته له ګاونډیانو سره ودارېدم ، تیاره خواره شوه ، خدای په اماني مو وکړۀ ، ټول خپلو کورونو ته لاړو.

د شپې په ډوډۍ یو ځل بیا زما د کوژدې خبره شوه ، ورته مې وویل: زه دې ډوډۍ وخورم ، د څنګ کوټې ته ځم ، تاسو بیا پرې وغږېږئ.

مور مې په خندا ووې: هو وخی ، ته خو رټ شرمېږې ، داسې د شرم لوښی یې.

مشر ورور مې خبره ورغبرګه کړۀ: بېچاره په مورږ ټولو کې دا ، شرمګیر دی ، ته یې ګورۀ ، داسې خوالې پرې راماتې دي.

کوچني ورور مې هم وار خطا نه کړ ، مور ته مې یې وویل: ژر یې ورته کوئ ، چې زما نوبت راشي.

ټولو وخندل ، بیا مې مور ماته مخ راوړۀ: زویه ، زه سبا د ګاونډیانو کره ورځم ، که مور یې اوزګاره وه ؛ نو د خور کور ته به راسره لاړه شي ، پوښتنه به یې هم وکړم او دغه خبره به هم وریاده کړم ، چې څه وایي.

ورته مې وویل: مورې ، چې څنګه ستا خوښه وي. مشر ورور مې زیاته کړۀ: هو مورې ، همداسې وکړۀ ، ته سبا د هغه خلکو نظر واخلۀ ، چې څه وایي ، که غاړه یې کیښوده ؛ نو بیا یې په مخ غم خورو.

مور مې سمه ده وکړل او دسترخوان مو ټول کړ.

زه د موبایل زنګ په بهانه د څنګ کوټې ته واوښتم او دوی هملته ناست وو.

ګروپ مې ولګوهٔ ، لکه لېونی به مې له خوښۍ د ځان سره وخندل.

یو ځل مې په ذهن کې راوګرځېدل ، چې هیله مې د مور له ورتګ خبره کړم ، بیا مې وویل ، تر اوسه خو معلومه نه ده ، چې څنګه کیږي.

لمونځ چې مې وکړ ؛ نو کټ ته پورته شوم ، تر څو ژر ویده او شپه تېره شي ؛ خو خوب کله دومره نر و ، چې زه یې ځان سره په غېږ کې نیولی وای.

بس همدا سوچونه وو ، چې سبا به مې مور ورشي او کنه ؟ هغوی به څه ورته وایي ؟ د هیلې مور او پلار به څنګه کیږي ؟

تر نیمې شپې ویښ وم ، بیا یو وخت د خوب راباندې زور شو او په څو دقیقو کې یې د ځان ملګری کړی وم.

سهار چې راپورته شوم ؛ نو فکر مې کاوهٔ ، چې خوب مې لیدلی دی ؛ خو له ښه سوچ وروسته مې ذهن ته راغلل ، چې هر څه ریښتیا دي.

له چای څښلو وروسته د کلینیک په لور روان شوم ، هلته چې ورسیدم ؛ نو د هیلې پلار تر اوسه نه و راغلی.

لمر ته په چوکۍ کېناستم ، تر څو هغه راشي. مریضان راتلل ، نومونه به یې لیکل.

لس دقیقې وروسته د هیلې پلار د کلینیک په لویه دروازه موټر راداخل کړ او په ځانګړي ځای یې ودراوهٔ.

د موټر دروازه یې چې خلاصه کړهٔ ؛ نو په ما یې سترګې ولګېدې ، موسک شو دروازه یې بنده کړهٔ ، بیا یې ماته وویل: راغلی یې ؟ زه خو نن لږ ناوخت شوم.

هو مې ووې ، لږ وړاندې ورغلم ، سترې مشي مې ورسره وکړل.

هغه مخکې او زه وروسته ، ماته یې وویل: راځهٔ دننه به لاړ شو.

دواړه داخل ته لاړو.

په معاینه خونه کې هغه پر خپله چوکۍ کېناست او زه ورته په مخامخ چوکۍ. پوښتنه مو سره وکړهٔ.

هغه د مېز په سر توره بټن ووهلهٔ ، شېبه وروسته دروازه خلاصه شوه او يو کس راغی. د هيلې پلار ورته ووې: ټول پرسونل ته ووايهٔ ، چې دلته راشي.

کس په بېړه بېرته ووت.

ډاکټر ماته مخ راوړوهٔ: هغوی دې هم راشي ، ورسره به معرفي شې ، نور به خپل کارونه پيل کړو.

په څو دقيقو کې لس / دوولس کسان راغلل.

د هيلې پلار ورته وويل: څوګ خو پاتې نه وي ؟ د کسانو له منځه يو تن ووې: احسان په دواخانه کې دی ، نور څوګ نه دي پاتې.

ډاکټر ووې ، ښه هغه دې وي ، بيا يې ماته مخ راوړهٔ او دوی ته يې وويل: دغه ځوان به سر له نن څخه زموږ او ستاسو د کلينيک غړی وي. ځان به پخپله معرفي کړي.

پخپل ځای ودارېدم ، لومړی مې ټولو ته سترې مشي ووې او بيا مې ځان معرفي کړ.

وروسته هغوی هم هره يوه خپل ځان او دنده رامعرفي کړل او نور دندو ته لاړل.

زه هم پر کلينيک ورګرځېدم او هره څانګه مې يې وکتله.

ورځ نه تېرېده ، چې کور ته تللی وای او له مور څخه مې پوښتنه کړي وای ، چې څنګه دې وکړل ؟

له يو اوږد انتظار وروسته دغه کال ورځ هم مازديګر شوه ، له کلينيک رخصت شوم ، په بېړه مې کور ته ځان ورسوهٔ.

له لويې دروازې چې داخل شوم ؛ نو مور ته مې غږ ؛ خو ځواب يې رانکړ.

کوټې ته راغلم ، کوچنی ورور مې ناست و ، د مور پوښتنه مې ترې وکړهٔ ؟

هغه ووې: غرمې ته نږدې د ګاونډيانو کره لاړه ده ، تر اوسه نه ده راغلې.

په زړه کې پټ خوښ شوم او له ځان سره مې وويل: دا حتماً د هيلې دوی کور ته تللې ده ، ځکه يې دومره ناوخت کړ.

پر توشکه مې بالښت ته تکيه وکړهٔ ، کوچني ورور ته مې وويل: چای نشته ؟

له ځایه پورته شو ، له بلې کوټې څخه یې یوه پیاله او ترموز راوړل ، زما مخې ته یې کېښودل.

پیاله مې ځان ته ډکه کړۀ ، د چای رنګ لږ سور شوی و ، ورور مې ووې: وختي مې ترموز ډک کړی و ، ځکه یې رنګ بدل شوی دی.

ورته مې وویل: ایله څښلو ته برابر دی ، نه ډېر یخ دی او نه ډېر ګرم ، نور یې په رنګ پسې مه ګرځۀ.

هغه له کوټې ووت او ما موبایل راواخیست.

وټساپ مې راخلاص کړ.

ډېر مسېجونه راغلې وو ؛ خو په ټولو کې مې لومړی د هیلې مسېج خلاص کړ.

سلام یې کړی و او بیا یې لیکلي وو: څنګه شوه ، زنګ درته نه کیږي ، کلینیک ته لاړ وې او کنه ؟

د سلام ځواب مې ورکړ او بیا ورته ولیکل: نه پوهېږم ، ولې به مې یې نمبر بند درته ښودلی وي ، کنه خلاص و. کلینیک ته تللی وم ، کار مې شروع کړ ، له ټول پرسونل سره مې ځان معرفي کړ او څو دقیقې وړاندې کور ته راغلم.

د هغې وټساپ بند (افلاین) و.

موبایل مې کېښود ، چای ته مې وکتل ، یخ شوی و ، هغه پیاله مې تشناب کې توی کړه او بېرته مې بله ځان ته ډکه کړۀ.

له چای وڅښلو وروسته مور ته انتظار ډېر سخت شو ، وخت هېڅ نه تېرېده.

بار ، بار مې په ذهن کې دا پوشتنې راګرځېدې: مور به مې د هیلې دوی کره تللې وي او کنه ؟ که تللې وي ؛ نو څه به یې ورته ویلي وي ؟ هغوی به څنګه ځواب ورکړی وي ؟

نور نو په کوټه کې کېناستل راته بیخي سخت شول.

ساعت ته مې وکتل ، د ماښام اذان ته لږ وخت پاتې و ، له ځای پورته شوم ، د باندې راووتم.

زموږ کور ته مخامخ د کوڅې هغه غاړه دوکان ته لاړم ، څو نور کسان هم ناست وو.

هملته پر چوکۍ کېناستم.

تر اذان پورې مو لږ ګپ شپ ولګوۀ او بیا جومات ته لاړم.

لمونځ چې مې وکړ ؛ نو په دې نیت کور ته راغلم ، چې مور به هم راغلې وي.

کوټې ته چې ننواتم ؛ نو مشر ورور مې هم ناست و ؛ خو مور نه وه.

کوچني ورور مې وویل: مورکۍ تر اوسه څه کوي ؟

زه بېرته راووتم او دوی ته مې په دروازه کې ووې: د ګاونډیانو هلک له دوکان سره و ، زه به پوښتنه ترې وکړم او روان شوم.

هلک نه و ؛ نو مجبور شوم ، چې نرسې ته زنګ وکړم.

موبایل مې راواخیست ، د نرسې شمېره مې ثبت نه وه ؛ خو وروستي دوه عددونه یې راته یاد وو ، د راغلو زنګونو په لېست کې مې وکتله ، اخېر کې مې پیدا کړه.

د زړه له درزا سره مې یو ځای زنګ ورته وکړ ، له څو ټالیو وروسته یې قاطع کړ.

بیا مې زنګ ورته ونه کړ ؛ خو حیران شوم ، له ځان سره مې ووې: ولې یې زنګ قاطع کړ ؟ خدای دې وکړي ، چې څه مشکل نه وي. ما همدا سوچونه کول ، چې د نرسې زنګ راغی ، له اوکې سره سم یې وویل: دا څنګه ماښام دی ، چې تا زنګ وکړ ، ته ودرېږۀ ، چې تیره واړوم.

په خندا مې ووې: ته دا خبرې پرېږدۀ ، زما مور ته ووایۀ ، چې نور خو شپه ده ، کور ته نه راځې ؟

هغې ځواب راکړ: مور خو دې زموږ کره نه ده راغلې ، ولې کور کې نشته ؟

نور هم حیران شوم ، ورته مې وویل: هغې وې ، چې له دوی کره ځم.

لږ غلې وه او بیا یې زیاته کړۀ: هسې به یې درته ویلي وي ، زموږ کور ته خو نه ده راغلې.

سمه ده مې وکړل ، چې اړیکه مې پرې کوله ؛ نو هغې وخندل او بیا یې ووې: همدلته ده ، مازدیګر درتله ؛ خو موږ په زور پاتې کړۀ ، ډوډۍ چې وخوري ؛ نو مور مې ورسره درځي.

ورته مې وویل: زما خو دې زړه وویسته ، چې په مور مې څه وشول ، دادې ټوکو وخت دی ؟

ویې خندل او راته یې ووې: کله نا کله به ټوکې هم کوو.

ځواب مې ورکړ: ښه دې وکړل ؛ خو مورکې ته ووایۀ ، چې وختي راشي.

هغې زياته کړۀ: لکه چې وړی يې ، مور وريژې پخې دي ، تاسې څه شی مه کوئ ، هغه مو دې مور ته ويلي دي ، در وړي يې.

مشکل نشته مې وويل او اړيکه مو پرې کړۀ.

تياره خواره وه ، له دوکان مې د سهار چای لپاره يو کيلو شيدې واخيستې او کور ته لاړم ، چې کوټې ته ننواتم ؛ نو مشر ورور مې وويل: څنګه چل شو ؟

ورته مې ووې: همدلته ده ، ډوډۍ خوري راځي.

کوچنی ورور مې په نغري کې لګيا و ، ورته مې غږ کړ: څه شی کوې ؟

هغه ځواب راکړ: اوس خو ناوخت دی ، مور چې راځي ، زه به هګۍ پخې کړم.

ورته مې ووې: ته لږ صبر وکړۀ ، هغه اوس راځي.

سمه ده يې وکړل او کوټې ته راغی.

تقريباً شل دقيقې به تېرې شوي وي ، چې مور مې له دېګي سره راننواتۀ.

کوچني ورور مې ترې دېګ واخيست ، سترې مشي مو ورسره وکړل ، په کټ کې کېناسته او ميوند ته يې ووې: وريژې مې راوړي دي په مخ (سمدستي) يې وخورئ ، چې بيا درنه يخې نشي.

ډوډۍ مو وخوړۀ ، چای ته ناست و ، چې موبايل ته مې زنګ راغی ، سکرين ته مې وکتل ترورزی مې و. اوکې مې کړ ، سلام يې واچوۀ ، پوښتنه مو وکړۀ ، بيا يې وويل: دادۍ (مور) دې چېرته ده ؟ زما مور ورسره غږيږي.

همدلته ده ، مې ورته ووې او موبايل مې مورکۍ ته ورکړ.

زما اندېښنه وه ، چې اوس به مور څنګه کړي وي ؟ ښه خبر به يې راوړی وي او که بد ؟

له ترور سره مې يې خبرې اوږدې شوې ، زړه مې بې واره ټوپونه وهل ، نيم ساعت به غږېدلي وي ، چې اړيکه يې پرېکړۀ.

ورته مې وويل: مورکې چېرته تللې وې ، چې نيمه شپه دې کړۀ.

په خندا يې ځواب راکړ: ستا غم مې کاوۀ ، نور چېرته تللې وم ، ببګا مې درته ونه وې.

ځان مې ناګاره واچوۀ ، ورته مې ووې: زما خو بيخي له ياده هم وتلي و.

مشر ورور مې مور ته مخ ورواړوۀ ، بيا يې زياته کړۀ: ريښتيا څه دې وکړل ؟

مور مې له چاى غوړپ وکړ او مشر ورته مې يې ځواب ورکړ: غرمه مو دلته وکړۀ ، بيا يې د خور کره لاړو.

خبره يې پسې وغځوله: هلته چې لاړو ؛ نو مور يې نه وه ، چېرته تللې وه.

مازديګر ته نږدې هم رانغله ؛ نو موږ ترې راغلو ، بيا دلته وم ، نه يې راپرېښودم ، راته شله و ، چې ډوډۍ به خورې.

له ځان سره مې وويل: ټوله ورځ دغه سخت انتظار او د هيلې مور په کور کې نه شتون ، دا څه بد قسمتي ده.

مشر ورور مې مور ته ووې: خير ، بله ورځ له اوله زنګ ورسره وکړئ او بيا ورشئ.

مور مې ځواب ورکړ: ما خو نن هم ورته وې ، چې زنګ ورته وکړئ ، هسې نه چې چېرته تللې وي ؛ خو خور يې وې ، چېرته نه ځي.

زما فکر خراب شو ، دوى لګيا و ، غلى پورته شوم او د څنګ کوټې ته راغلم.

ښه شېبه مې چورتونه وهل ، بيا هيله ذهن ته راغلۀ ، چې بايد زنګ ورته وکړم.

موبايل مې راواخيست ، دوه زنګونه مې ورته وکړل ؛ خو ځواب يې رانکړ.

وټساپ ته لاړم ، هلته هم افلاين وه.

انديښنه مې شوه ، ځکه له پرون راهيسې ورسره نه وم غږېدلى ، بيا مې په دې ځان ته داد ورکړ ، چې شايد شفاخانه کې نن شپه نوکري وي.

لمونځ مې چې وکړ ، ګروپ مې بند کړ او په کټ کې څملاستم.

د هيلې مور ته مې غوسه راغلې وه ، چې ولې په کور کې نه وه.

همدې خبرې راځخه خوب تښتولى و ، کله په يو لټ اوښتم او کله په بل.

بیا د هیلې پلار ذهن ته راغی ، له ځان سره مې وویل: ډېر نرم سړی دی ، بله ده ، چې پوه ډاکټر دی ، ان شاءالله د لور خوښه په نظر کې نیسې ، زما او د هغې په اړیکه کې به مخالفت نه کوي.

همدا چوتونه و ، تر ناوخته خوب نه راته ، بیا له ځای پورته شوم ، د باندې وواتم.

کړکۍ ته نږدې په ژېړه بوشکه کېناستم.

اسمان ته مې وکتل ، تک شین وو. ستورو یو بل له لاسو نیولي وو او اشارې یې کولې. پسرلنۍ نرمه هوا لګېده ، براندې ته په جوړ شوي ګلدان کې د ګلانو نرم بوی مې حِس کړ او بیا مې ستورو ته وکتل ، له ځان سره مې دا ټپه وویله:

اسمان کې ستورې راته خوښ کړۀ

زه به دا ستـا مینه په ستـورو ماتومـه

تر ډېره مې له دې ننداره څخه خوند اخیست ، یو وخت مې ساړه وشو ، بېرته کوټې ته لاړم او پر ځای څملاستم.

ښه شېبه وروسته خوب د ځان ملګری کړی وم.

سهار له چای څښلو وروسته ، دندې ته روان شوم ، کلینیک ته نږدې وم ، چې د هیلې زنګ راغی.

اوکې مې کړ ، له سلام سره یې وویل: زه بخښنه غواړم ، بېګا دې دوه زنګونه کړي وو ؛ خو زما تبه وه ، بیخي پسې خبره شوي هم نه یم.

ورته مې ووې: قربان ، هېڅ خبره نه ده ، تا دې خدای راته زر رکه روغه کړي.

څه درباندې شوي دي ؟

هغې ووې: پرون له ترور سره مورکه راغلې وه ، زه داسې وم ، چې کېناستی نه شوم ، رانه خپه شوي نه وي ، مور مې هم په کور کې نه وه ، زما نورې خویندې ورسره وې.

اوس مې داسې په زړه کې خاښه ده ، خدای دې ناروغي ورکه کړي ، په دومره وختونو کې زه پرون ناروغه شوم.

ورته مې ووې: زما ښکلو هیلووو ، مور داسې خوشاله وه ، هغه په دومره واړو خبرو پسې نه ګوري ، ستا له ناروغۍ یې څه نه دي ویلي ، بیا مې ډاکټر ته د تګ او دوا پوښتنه وکړه ؟

ځواب یې راکړ: هو ، ډاکټر ته تللې وم ، ویل یې چې د وینې مکروب دې دي ، دوا یې راکړه ، اوس مې تبه ښه ده.

ښه مې وکړل او بیا مې زیاته کړه: خدای دې راته ښه کړه ، اې ریښتیا زه ستاسې کلینیک ته روان یم. پرون مې کار شروع شو.

هغې ووې: اوهووو دا خو دې زېرى راباندې وکړ ، مبارک دې شه او بیا یې زیاته کړه: پوهنتونه شروع کیږي ، ما مې پلار ته ویلي دي ، درس به دې هم وایې.

ورته مې وویل: هیلووو ، اوس څنګه مننه وکړم ، هغه الفاظ رانه ورک شول ، ما بله خبره کوله ، چې هغې وویل: چپ ، بیا داسې ونه وایې. ته خوګ یې او زه خوګ یم ؟

ورته مې ووې: هغه خو سمه ده ، نور یې خبرو ته پرینښودم او راته یې ووې: بس نور څه مه وایه.

غلی شوم. هغې وویل: مورکه غږ کوي ، چې څه وایي ، کېدای شي ، نن کلینیک ته هم درشم ؛ خو بیا زنګ درته کوم ، اوس ښکلې او ارامه ورځ ولرې.

تاته هم ښه ورځ مې ووې او اړیکه مو پرېکړه.

څو دقیقې وروسته کلینیک ته ورسیدم ، خپل کار ځای ته لاړم ، بیا وروسته په ناروغانو وګرځېدم ، له بېلابېلو کسانو سره مې خبرې وشوې ، داسې خاص ستونزه نه وه ، بېرته خپل ځای ته راغلم.

په بې صبرۍ مې د هیلې راتګ ته شېبې شمېرلې ، دوه زنګونه راغلل ، ما به په بېړه موبایل راواخیست ، چې ګوندې هغه ده ؛ خو بل خوګ به وو.

تقریباً لس نیمې بجې به وې ، په کتابچه کې مې څه شی نوټ کول ، چې د هیلې زنګ راغی.

موبایل مې اوکې کړ او سلام مې واچوه.

علیکم سلام یې ووې او بیا یې زیاته کړه: الهامو ته به ماته منتظر وې ، زه نن پاتې شوم ، مېلمانه راغلل.

سمه ده مې وکړل او خدای پاماني مو سره وکړه.

پخپل کې کار لګیا شوم.

تر ماښامه همدلته کلینیک کې وم او بیا کور ته لاړم.

شپې او ورځې یو په بل پسې تېرېدې. پوهنتونونه شروع شول ، په لومړنیو ورځ کې داسې خاص درسونه نه وو ؛ خو وروسته منظم او پر وخت وو.

وخت ناوخت به مې په پوهنتون کې له هیلې سره لیدل ؛ خو ډېره موقع به نه وه ، ځکه له هغې سره به هم ټولګیوالې وې او زما سره هم.

اوس په کار کې هم پوره بلد شوی وم ، د هیلې پلار راسره بیخي ښه و ، ډېر خوږ غږ به یې راباندې کاوه.

تر ډېره یې کارونه ماته راسپارلي و ، ما به هم لکه خپل کار ډېر په اخلاص کول ، ځینې وختونه به تر نیمې شپې لګیا وم.

یوه شپه ناوخته چې ډاکټر له ناروغانو کتلو اوزګار شو ؛ نو زه یې وروغښتلم.

د ژوند ، پلار ، وروڼو او واده په اړه یې رانه پوښتنې وکړې.

ورته مې وویل: پلار مې دې خدای وبخښي ماته نه یادیږي ، چې وفات دی ، درې وروڼه ، یوه مور ده ، مشر ورور ته مو کوژده کړې ؛ خو واده یې نه دی کړی او زما خو لا تر اوسه د واده پلان نشته.

هغه زیاته کړه: په ژوند کې هېڅکله ماتې مه منه. زه ستاسو غوندې په ماشومتوب کې د پلار له سیوري محروم یم ؛ خو مور مې دې خدای وبخښي ، په ځان یې هر ډول تکلیف تېر ، په ما یې زده کړې وکړې ، دا نن چې هر څه یم ؛ نو د مور برکت دی ، له چای یې غوړپ وکړ او بیا یې خبره وغځوله: له کار ډېر تمرکز په زده کړو وکړه ، زما درته پام دی ، ته ډېره وړتیا لرې ، زه لکه د پلار غوندې درسره یم ، چې هر څه ته دې اړتیا شوه ؛ نو ډاډه راباندې غږ کوه.

مننه مې ترې وکړه او بیا مې ورته وویل: ان شاءالله خپله هڅه کوم ، چې د کار تر څنګ لوړې زده کړې هم وکړم ، ځکه دا مې د ژوند یو لوی ارمان دی.

هغه له غاړې د فشار کتلو اله پر مېز کېښوده ، راته یې ووې: همداسې همتې اوسه ، باوري یم ، چې یوه ورځ به خپلو هیلو ته رسېږې ؛ مګر تکلیفونه به وي ، چې ورته تسلیم نشې.

هو مې وکړل او ورته مې وويل: اصل خوند په همدې ژوند کې دی ، چې په انسان ټيټې جګې تېرې شي.

هغه پوښتنه وکړه: ځنګه واده ته ولې اوس پلان نه لرې ؟

ځواب مې ورکړ: که څوک پوهيږي ، واده مسؤليت دی او بله دا چې په اوس وخت کې زموږ د اقتصاد هم چندان خوند نشته ، دلته خو تاته معلومه ده ، چې ښځې ملا ماتونکي ولورونه لري.

هغه وويل: خدای مهربان دی ، ان شاءالله څه چاره به جوړه کړو.

هو بېشکه مې ووې.

ساعت ته يې وکتل بيا يې ماته مخ راواړ ، ناوخت دی ، ويده به شو ، سبا به ته پوهنتون ته ځې او زما به هم ناروغان وي.

سمه ده مې وکړل او د خوب خونې ته لاړم.

هلته چې پر ځای څملاستم ؛ نو د ډاکټر خبرې مې په ذهن کې يوه ، يوه راګرځېده ، له ځان سره مې ويل ، څومره مهربان دی ، دومره ښې خبرې يې راته وکړې.

په همدې سوچونو کې ډوب خوب له ځان سره اخيستی وم.

سهار وختي ، چې مې لمونځ وکړ ؛ نو کور ته لاړم. دروازه بند وه ، کوچني ورور ته مې زنګ وکړ ، دروازه يې راخلاصه کړه.

مور مې په چايو لګيا وه ، نغري ته ورغلم ، چې زه يې وليدم ؛ نو يې راته ووې: زويه دومره وختي څنګه راغلې ؟

ورته مې وويل: مورکې ، اوس خو پوهنتونونه شروع دي ، چې کلينيک کې شپه وکړم ؛ نو سره ګډ وډ وم ، وختي راغلم ، تر څو حمام وکړم او کالي بدل کړم.

له دېګ يې شيدو چای ترموز ته واړوه ، راته يې ووې: ته ترموز واخله ، کوټې ته درځه ، زه پيالم مينځم.

سمه ده مې وکړل ، ترموز مې واخيست او کوټې ته لاړم.

لږه شېبه وروسته مې مور د پیالو له پلاستیکي سرې جالۍ سره ، چې اوبه ترې څاڅېدې ، کوټې ته راننواتۀ.

له چای څښلو وروسته د باندې انګړ ته راووتم ، لمر راختلی و. ژر ، ژر مې ځان تیار کړ ، چپېټر مې راوخیستل او مور ته مې وویل: زه به لاړم شم ناوخت دی ؟

هغې ووې: زویه ، هله ورځۀ ، لمر رالوېدلی.

دسمال مې له غاړې تاوو کړ او راووتم.

کلینیک ته لاړم ، حاضري مې امضاء کړۀ او بیا پوهنتون ته روان شوم.

د نورو ورځو په پرتله نن درسي ساعتونه ټول ډک وو او هوا یو څه ګرمه وه.

ټولو به ویل: تازه پسرلی شروع شوی ، لمر دومره تېز دی ، سږ کال به له ګرمۍ سره څه کوو ؟

ورته مې وې: خدای مهربان دی ، د تېر کال غوندې به بارانونه وشي.

پوهنتون چې رخصت شو ؛ نو کلینیک ته لاړم ، تر ماښامه هملته وم ، بیا کور ته راغلم. دا چې تېره شپه هم بې خوبه شوی وم ؛ نو وختي مې ډوډۍ وخوړۀ او د څنګ کوټې ته لاړم.

کټ ته پورته شوم ، کمپل مې په سر راکش کړۀ ، هماغه شېبه ویده شوی وم ، چې موبابل ته مې زنګ راغی.

سترګې مې وسولولې ، سکرین ته مې وکتل هیله وه.

اوکې مې کړ: سلام یې وکړ. ځواب مې ورکړ. هغې ووې: لکه چې دومره وختي ویده شوی وې ، که څنګه دې غږ داسې دی ؟

هو مې وکړل ، ورته مې وویل: پرون شپه مې هم خوب نه و کړی ، وختي مې ډوډۍ وخوړۀ او څملاستم.

هغې ووې: ښه نور دې له خوبه نه باسم ؛ خو پوهېږې ، لږ وړاندې مې پلار په ډوډۍ باندې مور ته څه ویل ؟

پلار مې مور ته لګیا و ، ستا صفت یې ورته کاوۀ ، ډېر زړه یې درباندې سوزېدلی دی. مور ته مې یې ویل: داسې کار کوي ، لکه خپل کلینیک یې چې وي.

اې ریښتیا ، پلار مې ستا له واده هم خبر و ، چې نه یې لرې ، تا ورته ویلي و ؟

هو مې وکړل او بیا مې د تېرې شپې ټوله کیسه ورته تکرار کړه.

هغه مې هم ورته ووې ، چې زما خو بیخي له یاده وتلي و ، زه خو تا پلار ته د خور له طرفه معرفي وم ؛ مګر ما ورته ونه وې ، چې خور لرم. یوازې درې ورونه او مور مې یاده کړل.

هیلې ووې: چورت مه وهۀ ، پلار مې دومره په دې کیسو پسې نه ګرځي ، د هغه څخه به اوس دا بیخي هېر وي.

ورته مې وویل: زما څخه هم هېر و ؛ ستا د پلار په خبرو پورې رایاد شول ، ما ویل هسې نه لانجه مې جوړه وي.

هغې ووې: نه ، د پلار مې زړه منلی یې ، اخېر به هم خبرېږي ؛ خو زه یې ورته وایم ، چې دا ځکه دومره ښه دی ، په لور دې مئین دی.

په خندل مې زیاته کړۀ: هو کنه ، ستا هېڅ لاس هم پکې نشته ، ټول زه یم.

هیلې هم وخندل او راته یې وویل: الهاموو له خوب مې وویستې ، هله ویده شۀ ، هغې نور څه ویل ، خبره مې یې ونیوۀ ، ورته مې ووې: تا چې زنګ وکړ او خبرې مې دې واورېدې ؛ نو خوب وتښتېده ، بیا مې زیاته کړۀ: هیلووو ، که پلار دې پر موږ وپوهیږي ؛ نو وایي به ، ښه تاته ددې لپاره ځان دومره ښه کړی و ، زه خو داسې وېرېږم.

په خندا یې ووې: هو ښه سړیه ، چې دومره وېرېږې ؛ خو لور یې پرېږدۀ.

ورته مې وویل: هیلوګۍ ، له لور مې یې نه کیږي ، څه وکړم ؟

بس چې نه دې کیږي ، غلی شۀ یې ووې او بیا یې زیاته کړۀ: ته اوس دا خبرې پرېږدۀ ، بېګا دې هم خوب نه دی کړی ارام ویده شۀ ، سبا ان شاءالله بیا سره غږېږو.

نه مې وکړل ، ورته مې وویل: راسره غږېږۀ ، خوب نه دی راغلی.

هغې ووې: زما لېونیه ، سبا به پوهنتون ته ځې او بیا کلینیک ته ، ځان مه بې خوبه کوۀ ، زه چېرته درنه ځم نه ، همدلته یم.

سمه ده مې وکړل ، له خدای پامانۍ وروسته مو اړیکه پرېکړۀ.

سترګې مې له خوب ډکې وې ، موبایل مې د بالښت لاندې کړ او څملاستم. لږ وروسته ویده شوی وم.

سهار له چای وروسته لومړۍ کلینیک او بیا پوهنتون ته لاړم.

داخل د لویې دروازې سره نږدې په چمن کې کښېناستم ، تر څو هیله ووینم ؛ خو تر پوهنتون شروع کېدو مې ونه لیده.

ټولګي ته لاړم ، ناست درس ته ؛ خو په ذهن کې مې هیله وه. له ځان سره مې ویل: ولې رانغله ؟ بیا ناروغه نه وي ؟ اخېر مې په دې ځان ته داد ورکړ ، چې پرې ناوخت شوی به وي. زه په همدې چورتونو کې ډوب وم ، چې ښوونکي راباندې غږ کړ:

چیشت... ، دا څوم ځل دی ، چې ګورم دې ؛ خو ستا پام نه دی ، که درس ته د زړه نه کیږي ؛ نو د باندې ووځه. ټکان مې وخوړ ، په ورخطایۍ مې وویل: استاد محترم ، بخښنه غواړم ، درس ته راغلی یم ، نن مې لږ کورني مې مشکل لرل ، هغه ته مې چورت خراب وو.

استاد ووې: مشکل به خدای حال کړي ، چورت مه ورته وهۀ ، درس ته دقیق اوسېږۀ.

سمه ده مې وکړل ، هغه بېرته پر سپینه تخته په نوټ راکولو بوخت شو.

پوهنتون رخصت شو ، چې له دروازې یې راوواتم ؛ نو مې هیلې ته زنګ وکړ. له اوکې سره سم یې ووې: مورې اوس مو پوهنتون رخصت شو ، موټر کې یم.

پوه شوم ، چې موټر کې ده ، نشي غږېدلی ، سمه ده مې ورته وویل او اړیکه مې پرې کړۀ.

زړه مې ډاډه شو ، شکر ښه ده او پوهنتون ته هم راغلې ده.

زه هم موټر ته پورته شوم ، د کلینیک سره ښکته شوم او داخل لاړم.

مازدیګر ته نږدې چې له خپل کار ځای راووتم ؛ نو په هیلې مې سترګې ولګېدې.

حیران شوم ، ځکه ماته یې هېڅ ویلي نه و ، چې زه کلینیک ته درځم.

هغې لومړۍ زما په لیدو سره نرۍ مُسکا وکړۀ ، بیا لږ وړاندې راغلۀ ، سلام یې وکړ او راته یې وویل: څنګه داسې راته ګورې ، لکه زه چې دې له دې مخکې بیخي لیدلي نه یم ؟

علیکم سلام مې وکړل او بیا مې په خندا ځواب ورکړ: لیدلې مې یې ؛ خو دلته په کلینیک کې دې لومړۍ ځل دی ، چې وینم.

هغې هم وخندل او راته یې ووې: بس داسې به مې ډېر ځله دلته وینې.

پوښتنه مې ترې وکړۀ: ولې دې ماته ونه ویل ، چې زه درځم ؟

لږ غلي وه ، بیا یې ځواب راکړ: نیت مې نه وه ، چې راشم ؛ خو هغه بله ورځ د مکروبو د تبې علامې راباندې راغلې ؛ نو مې پلار ته زنګ ووهۀ ، ویل یې ، چې راشۀ.

ښه مې وکړل او ورته مې وویل: ورځۀ ، ته یو ځل له پلار سره ووینۀ.

په تلو کې یې راته : ته د کلینیک په کومه برخه کې کار کوې ؟

د معاینه خانې شاته کوټه مې ورته وښودۀ.

هغې ووې: زه مې له پلار سره وینم ، ته هملته کېنۀ ، که څوک نه وو ، بیا درځم.

سمه ده مې وکړل ، هغه لاړه او زه هم خپل ځای ته ننواتم.

نن لږ ناروغان زیات وو ، چاته دا معلومات نه کېدل ، چې هیله څوک ده او زه ولې ورسره ولاړ وم ؛ خو د پلار له ځایه یې پناه وو.

ماښام ته نږدې چې لا هم څو ناروغان پاتې وو ، هیله زما کوټې ته راغلۀ.

زړه مې بې واره درازېده ، ورته مې وویل: هیلووو ، پلار دې.

په خندا یې ووې: مه ډارېږۀ ، څو ناروغان ورته پاتې دي ، هغه ګوري ، ماته یې ویل ، چې د ښځو انتظار خونه کې کېنۀ ، بیا یو ځای کور ته ځو.

ښه مې وکړل او غلی شوم.

ماته مخامخ پر چوکۍ کېناسته ، بیا یې راته وویل: الهامووو یاد شوی مې وې ، دغه ډېره موده مې نه وې لیدلی.

ورته مې ووې: هیلووو زما هم یادېدې ، درپسې خپه وم ، ځکه ډېر وخت مې نه وې لیدلي.

په مخ راغلي ویښتان یې بېرته په ټیکري کې ورپټ کړل او راته وویل: کار دې څنګه دی ؟ پلار خو به دې ستړی کوي نه ؟

ځواب مې ورکړ: نه ، بیخي ارام کار دی ، ستړیا پکې نشته ، پلار خو دې تر اوسه دا هم نه دي راته ویلي ، چې له دې ځایه پورته شۀ ، هلته کېنۀ.

ویې خندل او بیا یې ووې: خود ، ولې به څه درته وایي ، زما له مرګه یې اورېدلي دي.

ما هم وخندل ، ورته مې وویل: ستا لپاره ډېر پام راباندې کوي ، هېڅ راته نه وایي.

ښه شېبه سره ناست وو ، بیا هغه له ځایه پورته شوه او زیاته یې کړه: زه ځم ، ناروغان به نور ختمیږي ، پلار به مې وایي ، چې ځنګه ورکه یم.

سمه ده مې وکړل ، نږدې راغلهٔ راته یې ووې: یوه ټینګه غاړه راکړهٔ.

په ورخطایۍ مې ورته وویل: هیلووو ، کلینیک دی ، څوک به مو ویني ، ما نور څه ویل ، چې غېږهٔ یې رانه تاوو کړهٔ ، بیا یې په تندي ښکل کړم او لاړهٔ.

زه د زړه له درزا سره په ځای لکه مېخ شوی داسې ولاړ وم ، فکر مې کاوهٔ ، چې خوب وینم.

له ځان سره مې ووې: دا ګورهٔ ، ښه که اوس څوک راغلی وای ؛ نو څه به مو کولای ؟

زه په همدې فکرونو کې ډوب وم ، چې د ماښام اذانونه وشول ، لمونځ مې وکړ او د باندې راووتم.

معاینه خانې ته نږدې مې په موبایل کې ځان په دروغو ځان مصروف کړ ، تر څو هیله دوی هم راووځي.

له لږ انتظار وروسته د هیلې پلار وړاندې او هغه ورپسې راووتل ، موبایل مې جېب ته کړ ، یوې څنډې ته شوم.

پلار یې راته وویل: الهامه ، ته تر اوسه نه یې تللی ؟

سر مې پورته کړ ، هغوی ته مې وکتل او بیا مې ځواب ورکړ: ډاکټر صیب ، نن لږ ناوخت شوم ، اوس ځم.

هیلې د پلار له شانه راته سترګک(سترګه) ووهلهٔ او پټه خندا یې وکړهٔ.

ټکان مې وخوړ ، وجود مې لکه برق چې نیولی وم داسې شو ، خبرې راڅخه ورکې شوې ، ژر مې نظر لاندې واچوه.

د هیلې پلار په تلو کې راته ووې: که له موږ سره ځې ؛ نو راځهٔ.

مننه مې وکړهٔ ، ورته مې وویل: زه کور ته ځم ، سبا بیا پوهنتون هم دی.

سمه ده یې وکړل او موټر ته کېناست ، هیله یې هم شاته پورته شوه.

زه پخپل ځای ولا وم ، موټر یې تاوو کړ ، پهرادار لویه دروازه خلاصه کړه او لاړل.

زه هم له کلینیک راووتم او د کور په طرف روان شوم.

کور ته نږدې مې کوچني ورور زنګ راوکړ ، پوښتنه یې وکړه ، چې چېرته یې ؟

ورته مې وویل: خیرت دی ، په لاره کې در روان یم.

هو خیرت دی یې ووې او بیا یې زیاته کړه: مور مې د ګاونډیانو ښځې ډوډۍ ته پاتې کړي دي ، وایي چې لږ مېوه او شنه سبزي درسره راوړه.

سمه ده مې وکړل.

وړاندې مې له لویې هټۍ (دوکان) څخه سبزي او مېوه واخیستل ، څو دقیقې وروسته کور ته ورسیدم.

له دروازې چې ننواتم ؛ نو نرسه د اوبو په نالکۍ لګیا وه ، سطل یې ډکوه ، لومړۍ یې د کوټې طرف ته وکتل او بیا یې ماته وویل:

عمر دې ډېر دی ، همدا اوس مې ستا په اړه فکر کاوه ، چې څنګه ناوخت شو ؟

هغه ته راغلې.

ومې خندل او سترې مشي مې ورکړه. هغې غوښتل چې ورسره وغږېږم ؛ خو زه ونه دربېدم ، سیده کوټې ته لاړم.

لږه شېبه مې په کټ کې دمه وکړه ، بیا مې مور ته غږ کړ ، چې راغله ، مېوه او سبزي مې ورته وښودل.

هغې ووې: زویه ، میوند مې په مستو پسې لیږلی دی ، یو زنګ ورته وکړه ، د سهار چای لپاره مې شیدې بیخي له یاده وتلي دي.

سمه ده مې وکړل ، موبایل مې راواخیست ، چې زنګ مې کاوه ، کوچنی ورور مې کوټې ته راننوت.

بیا مې مشر ورور ته زنګ وکړ ، چې شیدې درسره راوړه.

در وړم یې ، ووې اړیکه مو پرې کړه.

څو شېبې وروسته مې مشر ورور له شیدو سره یو ځای راغی.

تر ناوخته مو کیسې کولې ، زه نن ډېر وږی وم ، چې مور مې ډوډۍ راوړه ؛ نو ورته مې ووې: مورکې ، وریژې کمې دي ، لږې به دې زیاتې راوړې وای.

ویې خندل او بیا یې راته ووې: خېټه دې وږي ده ، ته دا ختم کړه ، نورې به هم درته راوړم ، دا دې پنځو کسانو کیږي.

ورته مې وویل: زه نن سخت وږی یم ، دا کمې راته ښکاري ، خېر دا به وخورم ، که موړ نه شوم ؛ نو نورې به راوړې.

سمه ده یې ووې او له کوټې ووتۀ.

هماغه د مور خبره وه ، موړ ماړه شو ، وریژې پاتې هم شوې.

کوچني ورور مې شیان ټول کړل او عابد ته یې وویل: زه به سبا کلي ته لاړم شم؟ د ملګري نعیم ورا (واده) دی.

مشر ورور مې ځواب ورکړ: سمه ده ، لاړ شۀ ؛ خو سبا وختي راځۀ ، چې کور کې مور یوازې وي.

وختي راځم یې ووې ، له کوټې یې لوښي واخیستل د باندې ووت.

ما بالښت ته تکیه وکړۀ او موبایل مې راواخیست.

تر ډېره په فسبوک کې مصروف وم ، چې د نرسې کوچنۍ خور د چای ترموز راوړ او زما خواته یې کېښود.

مشر ورور مې په کټ کې کېناست او راته یې ووې: نن داسې ستړی یم ، ته یوه پیاله چای راته واچوۀ.

د دروازې سره ایښې پتنوس مې راکش کړ او دوه پیالې مې له چای ډکې کړې.

تر ډېره ناست وو ، بیا په ما د خوب زور شو ، لمونځ مې وکړ او په توشکه څملاستم ، سمدستي خوب وړی وم.

سبا د معمول په څېر لومړۍ کلینیک ته لاړم او ورپسې پوهنتون ته.

شپې او ورځې یو په بل پسې تېرېدې.

د شپږم ورځ وه ، د ځینو کارونو لپاره کابل ته لاړم ، د جمعې په سهار بېرته ته را روان شوم ، لږ لاره به پاتې وه ، چې د هیلې زنګ راغی.

اوکې مې کړ ، پرته له دې چې سلام واچوي ، راته یې په غوسه ووې: چېرته یې او ولې دې موبایل بند دی ؟

دا چې په موټر کې وم ؛ نو مې ورته وویل: زه لږ وروسته درته زنګ کوم ، اوس نور خلک راسره دي ، موټر کې یم.

هېڅ یې ونه ویل ، اړیکه یې پرېکړۀ.

اندېښنه مې شوۀ ، چې دا بیا ولې غوسه ده ؟

پنځلس دقیقې لاره راته دوه ساعته شوه ، هېڅ ختمېده نه ؛ خو بلاخره راورسیدو او له موټر ښکته شوم.

په بېړه مې موبایل راواخیست او هیلې ته مې زنګ وکړ ، مګر شمېره یې بند وه. بیا مې وکتلو ؛ نو تېر شو ، له څو ټالیو وهلو وروسته یې پورته کړ ، سلام مې وکړ او ورته مې وویل: خیرت دی ، ولې غوسه یې ؟

علیکم سلام یې ووې او بیا یې ځواب راکړ: دوه ساعت کېدل ، زنګ مې درته کاوه ؛ خو شمېره دې بند وه.

ورته مې وویل: ولې پرون مې خبره نه کړې ، چې زه نن کابل ته ځم ، سبا بېرته راځم.

لږ غلې شوه ، بیا یې په خندل زیاته کړۀ: لاړم له دماغو خلاصه شوم ، بیخي مې هغه له یاده وتلې وو.

ورته مې ووې: هو نو ، د پنځوسو کالنو یې او بل د وطن ټول غمونه ستا په سر دي ، ملامته نه یې ، خبره مې وغځوله: لږ حوصله کوۀ ، هر وخت د مرچو په بوجۍ ناسته وې.

بخښنه یې ووغوښته او بیا یې راته وویل: خبرې ته غوږ ونیسۀ.

بېګا مې پلار په کور کې له ډوډۍ وروسته زما د واده خبره یاده کړۀ ، د ترور خاوند مې ورته ویلي و ، چې مور ته یې راکړئ.

ما فکر وکړ ، چې ټوکې کوي ؛ نو په بې پروایۍ مې ورته ووې: بیا ستا څنګه خوښه ده ؟

هغې په غوسه خبره راغبرګه کړه ، زما خوښه ده ، چې هغوی ته مې ورکړې ، ځکه ته خو د چا کیسه کې نه یې ، نور یې څه ویلو زه پوه شوم ، چې کیسه ریښتیا ده ؛ نو مې یې خبره ونیوه. ورته مې وویل: نه ته اوس ټوکې کوې او که ریښتیا وایې ؟

د ټوکو وخت معلوم وي یې ووې او بیا یې زیاته کړه: اوس څنګه وکړو ؟ هغوی مې په پلار ډېر ښه لګیږي ، هسې نه چې ورسره ویې مني.

حیران شوم ، خبرې راځخه ورکې شوې ، خپله غریبي مې سترګو ته ودرېده ، زه چورت یووړم ، چې بیا یې راباندې غږ وکړ: څنګه غلی یې ؟

ورته مې وویل: تهووایه ، چې اوس څه وکړو ؟

اواز یې لوړ شو ، په غوسه ووې: زه چې پوهېدم ؛ نو بیا مې ولې تاته زنګ کاوه ، هغې نور څه ویل ، په خبره کې ور ولوېدم: پلار خو به دومره له تا څخه هم پوښتنه کوي ، چې خوښه ده او کنه ؟

له لږ چوپتیا وروسته یې زیاته کړه: زما سره به مشوره کوي ؛ خو د هغوی سره مې پلار ډېر جوړ دی او دغه هلک ډېر پرې ګران دی ، هسې نه ، چې خبره ورسره ومني ، باید له وړاندې نه څه غم وکړو ، یو ځل چې اوبه له ورښه تېرې شي ؛ نو بیا نه راګرځي.

ورته مې وویل: اوس زه مور درولیږم او که څنګه وکړم ؟

هغې په بېړه ځواب راکړ: زه مې هم مور پوهوم ، که کیږي ؛ نو سبا دې یو ځل مورکه زموږ کور ته راشي ، له مور سره مې دې ووینې.

سمه ده مې وکړل او بیا مې زیاته کړه: هیلووو ، زه اوس کور ته نږدې یم ، ان شاءالله مور سره غږېږم ، بیا تاته وایم.

ښه یې وکړل او اړیکه مو قطع کړه.

تر کوره په پاتې لار هېڅ پوه شوی نه یم ، چې څنګه راغلم ، بس همدا فکرونه وو ، څنګه به شي ؟ هسې نه چې پلار یې هغوی ته ورکړي. زما د مور خبره به ومني ؟ داسې ډېرې پوښتنې مې په سر کې تاوېدې ، چې په لویه دروازه ننواتم.

کوټې ته لاړم ، کوچنی ورور مې ناست و ، د مور پوښتنه مې ترې وکړه ؟ ویل یې ، چې کلي ته تللې ده.

بیا مې پوښتنه وکړه ، کله تللې ده ؟

هغه ووې: سهار مې د ماما زوی راغلی و ، چای یې وڅښه ، نور لاړل.

بکس مې په کټ کې کیښود او د څنګ کوټې ته واوښتم.

کوچني ورور مې راغږ کړ: ډوډۍ در وړم ؟

ورته مې وویل: نه ، اوس مې زړه ته نه کیږي.

سمه ده یې ووې.

زه په کټ کې اوږد وغځېدم ، تر څو مې ستوماني ووځي ؛ مګر په فکر کې مې د هیلې خبرې تاوېدې.

حیران وم ، چې اوس څه وکړم ؟ له ځان سره مې ویل: په دې دومره وخت کې نن مور هم کلي ته تللې ده.

ساعت ته مې وکتل څه د پاسۀ یوه بجه وه. پرېکړۀ مې وکړۀ ، چې مور ته زنګ وهم ، ورته به ووایم ، شپې ته مېلمانه راځي ، راشۀ.

همداسې مې وکړل ، د ماما زوی ته مې زنګ وکړ ، له پوښتنې وروسته مې ورته وویل: له مور سره غږېږم ، چېرته ده ؟

همدلته ده یې ووې او موبایل یې ورکړ.

مور ته مې په دروغو وویل: له کابل څخه لږ مخکې راغلم ، ترور مې زنګ کړی و ، په لاره کې را روان دي ، بېګا شپې ته دلته راځي.

مور مې ووې: اوس څنګه وکړم ؟

ورته مې وویل: خېر ورځ تېره کړۀ ، مازدیګر بېرته راشۀ ، هسې نه چې هغوی خپه شي.

سمه ده یې ووې او بیا یې زیاته کړۀ: ته دومره د شپې لپاره شیان راوړۀ ، زه هم درځم.

ورته مې وویل: ته له هغه بې غمه شۀ ، زه یې راوړم.

اړیکه یې پرېکړۀ.

خوشاله شوم ، چې مور خو راځي ؛ مګر د هيلې مور او پلار ته په زړه کې نيولی وم ، چې څنګه به شي ؟ خبره به ومني او کنه ؟

تر مازديګره مې همدا سوچونه کول ، چې مور مې راغلهٔ.

مشر ورور مې له دندې نه و راغلی او کوچنی ورور د باندې دوکانونو ته وتلی و.

کوټې ته له راننواتو سره سم يې ووې: تا ورته ويلی نشو ، چې هغه کلې ته تللې ده ؟ په ما يې تک ونه لګوهٔ.

په دروغو مې بيا ورته وويل: هغوی را روان وو ، چې ماته يې زنګ وکړ ، نور مې نو څکه څه ورته ونه ويل.

له مور مې په لاس کې نيولی تور پلاستيک واخيست ، په کټ کې کېناسته.

له بلې کوټې مې پټنوس راوړ او د چايو پياله مې ورته ډکه کړهٔ.

له ځان سره مې ووې ، چې لږ ارام وکړي ؛ نو ريښتيا خبره به ورته وکوم ، اوس غوسه ده ، هسې نه څه راته ووايي.

زه يې د کټ تر څنګ توشکه باندې کېناستم او ځان ته مې هم د چای پياله ډکه کړهٔ.

مور مې ديوالي ساعت ته وکتل او بيا يې راته ووې: ناوخت دی ، شيان دې راوړي دي ؟

ځواب مې ورکړ: ته چای وڅښهٔ ، لا وخت شته رابه يې وړم.

پياله يې ورپورته کړهٔ ، زه هم په چای څښلو لګيا شوم ، له ځان سره مې ويل: اوس څنګه وکړم ؟ بيا له ځايه پورته شوم ، مور ته مې ووې: څه شی راوړم ؟

هغې وويل: غوښهٔ ، لږ شنه سبزي او پلوي وريژې راوړهٔ ، نور هر څه شته.

سمه ده مې ووې او له کوټې راووتم ، لوی دروازې ته نږدې وم ، له کړکۍ مور راپسې غږ کړ: زويه ، د وريژو مساله هم نشته ، له ياده مې وتلې ده.

رابه يې وړم مې ووې او له کور وواتم.

ما ويل راځهٔ ، چې مېلمانه نشته ؛ نو موږ خو يو ، د ښار منځ ته په غوښه او شيانو پسې لاړم.

سودا مې واخيسته ، په شلو دقيقو کې بېرته راغلم.

مور مې وویل: هغوی خو تر اوسه رانغلل.

په خندا مې ځواب ورکړ: مورجانې ، هغه مې دروغ درته ووې ، نه راځي ؛ خو بله ضروري خبره ده.

حیرانه شوه او په غوسه یې راته وویل: تا ولې ماته دروغ ووې ؟

شیان مې کیښودل او د مور تر څنګ په کټ کې کېناستم ، ورته مې وویل: مورکې ، هغې ډاکټرې راته غرمې زنګ کړی وه ، چې پلار ته مې د ترور خاوند ویلي دي ، دا انجلۍ مور ته راکړي ، هسې نه ، چې پلار مې خبره ورسره ومني ، ته دې مور راولیږۀ ، چې دومره خو مې له مور سره وغږیږي ، بیا مې خبره وغځوله...

تاته مې ځکه دروغ ووې ، چې ماما دوی مې خپه نشي ، سبا یو ځل د ګاونډیانو له مور سره د ډاکټرې دوی کور ته ورشۀ ، له مور سره یې وغږیږۀ.

مور مې راته ووې: په تش لاس یې څنګه وغواړم ؟ که یې راسره ومني ؛ نو پیسې له کومه کوې ؟ نور خو ورتګ مشکل نه دی.

په بېړه مې ځواب ورکړ: ته صرف ورشۀ ، چې پلار یې هغه نورو ته ښه ونه کړي ، پیسې به بیا ورته دومره راپیدا کړم.

سمه ده یې ووې او بیا یې زیاته کړۀ: سبا به دغه د ډاکټرې ترور راسره بوځم ، له مور سره به یې پټه خبره شریکه کړم ، چې څه وایي.

له مور مې ټینګه غېږۀ ، تاوو کړۀ ، په تندي مې ښکل کړۀ ، ورته مې ووې: دغه غوښې شیان مې ستا لپاره راوړل ، چې زما غم وخورې.

مور مې په خندا زیاته کړۀ: سم ډېر دې په خوله زده دي ، نن دومره درباندې ګرانه شوم ؟

له خندا شین شوم ، ځواب مې ورکړ: مورکې ، هر وخت راباندې ګرانه یې ؛ خو نن بیخي ډېره.

تر ډېره په همدې اړه غږېدو ، چلونه مې ورته ښودل ، داسې ورته ووایۀ او هغاسې ، چې مور مې له ځایه پورته شوه او ماته یې وویل: بېګاته به د ډوډۍ غم وخورم.

زه هم ورسره شوم ، ورته مې ووې: مورکې رومیان او غوښه زه درته برابروم ، ته یې یوازې چې پخه کړې.

مور مې له کوټې څخه په وتو کې راته وويل: دا خبره خو دې لا وړاندې شوې وای ، چې داسې کارونه کوې ، نور له کوټې ووځه.

زه هم ورپسې شوم ، کومک مې ورسره وکړ. د ماښام اذان چې وشو ؛ نو جومات ته لاړم ، له لمانځه وروسته د ګاونډيانو سره څو دقيقې ودرېدم ، بيا کور ته راغلم.

کوټې ته چې لاړم ؛ نو مور مې هم په لمانځه ولاړه. لږه شېبه وروسته مې مشر او کوچنی ورور دواړه يو ځای راغلل.

مور مې سلام وګرځوهٔ ، عابد ورته ووې: تا خو ويل ، چې شپه کوم ؛ نو څنګه راغلې يې ؟ په سترګو کې مې مور ته اشاره وکړهٔ ، چې ما ورته وايهٔ.

کوچني ورور مې ووېل: هو ، ماته يې هم وې ، چې شپه کوم.

مور مې دعا وکړهٔ ، بيا يې ځواب ورکړ: زړه مې تنګ شو ، بل مه وې ، چې تاسو به ډوډۍ څنګه کوئ ، ورځ مې تېره کړهٔ ؛ نو راغلم.

مشر ورور مې ورته ووې: ډوډۍ خو هسې هم له نانوايۍ څخه راوړو ، هکۍ به مو پخې کړې وای ، هغه خو سختې نه دي ، ته هسې راتلې ، شپه به دې ورسره کړي وای.

مور مې ځواب ورکړ: بل وخت به شپې ته ورشم او بيا يې زياته کړهٔ: نغري کې مې دېګ بخار پرې ايښې دی ، چې غوښه رانه ونه سوځيږي ، له کوټې ووځهٔ.

ډوډۍ تياره شوه ، هغه چې مو وخوړهٔ ؛ نو زه د څنګ کوټې ته واوښتم او هيلې ته مې زنګ وکړ.

ډېرې خبرې مو وکړې ، بيا مې ورته ووېل: سبا ان شاءالله مور درځي.

پخير دې راشي يې ووې او اړيکه مو پرېکړهٔ.

لمونځ مې وکړ ؛ نو په کټ کې اوږد وغځېدم او کمپله مې په سر راکش کړهٔ.

اوس نو شپه لکه کال شوهٔ ، هېڅ خوب نه راته ، د سبا ورځې په اړه مې سوچونه وهل ، چې څه به کيږي.

## د څلورمې برخې پای